# زما نظم

شبیر خان دُرانی (ترنگ زئی)

Scanned by CamScanner

# زما شبیر جان ستاسو درانی

د تیرو شلو کالو نه شبیر جان زما بچے او زۀ ئے بابا یم. درانی د ورور د مینے نه ډک زلمے دے چه په وړو وړو میو ملاقات کښی د انسان په زړۀ کښی د خپلې مینے او احترام دومره غټه کوټ جوړ کړی چه کۀ بیا د زړۀ نه وېستل ناممکن نۀ وی نو ګران ضرور وی.

شبیر جان به تل د عوامی نیشنل پارټۍ په جلسو کښی زما غنی آو سائل آنقلابی نظمونه ویل. سائل او غنی خو د جلسو جلوسونو سره کار نۀ ساتو. ولے زما په قلم سیاست دومره ګلکے پنجے ښخے کړے وے چه زۀ به په هره جلسه جلوس کښی حاضر وم. نو کار به هغه ورځ او شو چه فرید طوفان مشبیر جان د نظم ویلو د پاره دا او غو ښتو په نشتر هال پېښور کښی د افغانستان په حقله سیمنار وو.

په دغه ورځ شبیر جان زما غنی او سائل په ځائے د چا بل شاعر نظم شروع کړو. د نظم نوم پښتون وو. خۀ د شبیر جان د وینا انداز منفرد دے او خۀ په هغه شعرونو کښی دومره حقیقت او وزن وو چه زما مرګی غریو او

www.pukhto.net

Scanned by CamScanner

ستړکې داوبنکو ډکې شوې. چه شبير جان نظم ختم کړو
او واپس د سټيج د پاسه په دريځ د ولي خان بنچو کښې
کښيناستو نو ولي خان ورته وې بچيه دا نظم د چا دې؟
شبير جان ورته وې بابا دا ز ما دې. دې خبرې سره ما
شبير جان ته غوږ تاو کړو او چه مخ ئې ما ته کړو او
ستړګې موبرابر شوې نو زه ورته مسکې شوم مقصد
مې داوو چه دروغ دې اووې.

هفته دوه پس چه شبير جان سره د ملګرو اکوړې
ته د اغلو نو دچا يو نه مخکښې ورپاندې اول ما د پښتون
نظم اووې او بيا مې ترې نه هم هغه دولي خان تپوس
اوکړو. شبير جان وې بابا دا زما دې کنه وے ستاسو
يقين نۀ راځي. ما ورته اووې بچيه زه چه ستا د کل
په مثال حسن او تنکې ځوانئ ته ګورم نو څنګه يقين اوکړم
چه دا تا ليکلې دې.

داورځې خوستا د کينتهين بازار ونو او ميلودې
کۀ د پښتون نظم په ځائے تا ما ته په ستړګو شو نړو
ذلفو او رخسار غزل ويلې وو نو ما به ويل چه دراني
خان چرته په هشنغرئ بناپيرئ زړۀ بيلو او د سوخته
شاعر شو. يائے شاعري شروع کړه.

ولے په دغه ورځ په اکوړې کښې شبير جان ما ته چل
هغه اړخ بنکاره کړو کوم چه تر ننه ورځې پورے زما د

مکه د کوندو ے ئے په وازګو می ډب اکوله
پلار م د مرګ نه زه پټولم د ډوندون په غیږ ه
مانه مرګے په هغه شپه د ډوندون غور ښکاره شو

نو ما ورته ووئیل بس شبیر جانه باقی یو لفظ او نهٔ وائے شبیر جان وے بابا چه زهٔ درته نظم اونهٔ وایم نو تاسو به ورپا ندے لیکل ختګه کوئ . ماورته وے بچیه زهٔ اوس هغه تکره خټک نهٔ یم پاتے هم دلته په کټ کښې به درته خود شم .

زهٔ حیران په دے شم چه په دے دومره لږ عمر کښې شبیر جان دادومره ژوره مطالعه او مشاهده دکوم ځائے دا وړه . زهٔ داخبره په یقین سره لیکم چه شبیر جان داو سنی دور یو نابغه او سپیځلے لیکوال دے . دهٔ په خپلو لیکونو کښې دویرو دازونو نه پړدے پورته کړی دی او پښتون اولس به تر ے نه ویښ زده کړه او کړی الله تعالیٰ دے دَ شبیر جان دَ قلم او رهم دغه دَ نګ تازه لری . (امین)

په پنډرونو مینه

اجمل خټک

۲۳- فروری ۲۰۰۷ء

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# دُعا

ربه زمونږ په خاوره امن خوشحالئ داو لے
په دے سپېرو او چو دښتو نو سوکالئ داو لے

دا چاوُدے شونډے دګلو سپړے ګلونه جوړه کړے
په دے ازغن ازغن ماحول سپرلی لولئ داو لے

د ګودر غاړه کړے اباده په منګو دَ جو نغ
وېښتهٔ ئے دک دسرو ګلونو شین خالئ داو لے !

چه په تېرون ئے د تاریخ پانړے تل فخر کوے
په پښتنو کښی ربه داسے ورور ولئ داو لے

چه حوصلے د شاه زلمیانو تر اسمان پورته شی
زمونږ په جونو کښی همت دَ ملالئ سرا و لے

۱۵، اکتوبر ۱۹۸۷ء

چارسده کالج

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# رحمت

که نسکور په سجده پروت یم تر قیامت
هر اندام مې وائي ستا ثنا ر صفت

د دنیا د رنګینو نه چې ته لرې
د غرۀ سیسمو کښې دې کومه عبادت

هره ساه کښې مې اواز ستا د لویئ وي
مکه سیند روان په ژبه تلاوت

په سخا کړه د عثمان رض درجې داکړې
مال او زر کړمه قربان ستا په خلقت

ګرمو شګو کښې لغړ په صحرا پروت یم
هر قدم مې وي د پاک نبي ص سنت

کۀ نمرود دا نه اورونه کړي چاپېره
کۀ یزید راکړي درجه د شهادت

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

کۀ منصور د زمانے شم یا کہ خدایہ
بے گناہ شمہ پہ دار ستا پہ الفت

شپہ او ورځ لکہ د حسن دے عشق کښې ژاړم
پہ قلم مې تذکرے ستا د عظمت

کۀ هر لړ دڅې ډک مې د چینجو شی
ورد کوم د لا اِلٰہ پرے پہ زخمت

کۀ مې غوږنے پہ سکاروباندے دوتے شی
سل تہ تیرې شم ستا پہ مینہ محبت

ستا پہ لار کہ مې ازغی سترګو کښې مات شی
ښېرې کړم شلے پہ منزل ستا د قربت

بیا هم اے د درانی محبوبہ دبہ
حق دے نۀ شم اداکولے د دحمت


Scanned by CamScanner

# نعت

چار چاپیر آخر زمان دے بل څوک نشته
چه و دان پرې کل جهان دے بل څوک نشته

چه ئې رب له مخه جوړه کل کائنات کړل
چه دیدار ئې په اسمان دے بل څوک نشته
چه دشمن ئې هم قسم په صداقت خوړی
چه سر داړ دو جهان دے بل څوک نشته
چه بتان ئې تول نسکور په ولادت شو
په عرب عجم چه ګران دے بل څوک نشته
چه په نور ئې شو دَ جهل دور ختم
چه امین د کل کاروان دے بل څوک نشته
شفاعت به په محشر چه د اُمت کړی
چه په هر چا مهربان دے بل څوک نشته
چه درود ئې دَ خبرو وسیله ده
چه دهر زړګی درمان دے بل څوک نشته

درانی به ئې څه صفت په قلم اوکړی
په خالق چه خومره ګران دے بل څوک نشته

جون ۱۹۹۰ء ترنګزئ

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# فریاد

هر قدم سره ګناه زما زیاتیږي
مینهٔ خبره په لحد د ا ته تنګیږي

چه لا سو نه هټکرئ مخ په قبله شم
هر یو لفظ م دَ جانان نامه جوړیږي

ابراهیمؑ کعبه کړه پاکه دَ بتا نو
خو د زړهٔ بتان په ژوند کله ماتیږي

حسن ستا دنور ذره ستا پیدا او ښت دے
ولے دا نادان زړګے م نهٔ پوهیږي

چه تندے کیږ دم په زمکه ستا لوئ کښ
دا ته خاوره کښ د یار تصویر ښکاریږي

زړهٔ په ما غلبه کړے دے د ماغو
هغه کار کوي په څه چه خوشحالیږي

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

نهٔ قادر ئے پتے دا زورنه در ته ښکاری
بنده ستا او بندګی م د بل کیږی

خدایه نور دا ګناهګار وجود م واخله
بوج په زمکه شولو نوره خفه کیږی

درانی ته ذرهٔ صفا کره جهنم کښ
زنګ چه کلک شی بیا دا ورنهٔ پاکیږی

۲۰۔ جولائی ۱۹۹۴ء

سوات کالام

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# داولے ؟

راځئ چه دوښو اوکړو خپل تړون په اتفاق
تر کومه به اغیار خوشحاله وو موږ په نفاق

شوے لوټ زمونږ کورنۍ بچي مړهٔ تالا کورونه
چه چرته مسلمان دے هلته بل دی سره اورونه

د بوسنیا بناتُ په بازارونو کښې نیلام شو
دَ حسن بناپیرے مو وزیرانو ته انعام شو

عراق شو لوټې لوټې محفوظ نهٔ دی مزارونه
زمونږه دامامؒ په روضه اوشو گذارونه

په ویښو کښې خوب شو د کابل ښکلي ځوانان
رسۍ شوے دپاسۍ مرو کښې جوړ ته زلفانے

کړه جوړه معشوقې ما دی پر ستو د کشمیره
بهارت او پاکستان کله انکار کړی د شاه تیره

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ظلمونه د شیرون[2] په کړم الفاظ باندې بیان کړم
ځوانان خیر که شهیدان شو د یاسین[3] مرګې حیران کړم

ملګری د یهود نه شی خلاف د مسلمان
فرمان دے د الله مونږ ته کتاب کښې د قرآن

کمزوری دے مو ایمان شو تیته ووزورته سرونه
اقبال[4] چې پرے ږړے دے د شاهین شو وزرونه

د تیلو نه پس بش[5] ته ضرورت د سمندر دے
پخوانه ئے نظر د ونړو زمونږ په کوم ادر دے

د امهٔ وایئ چه پخ به د دے اوره زمونږ کور شی
د امرسته د یهود به در آنئے در ته پیغور شی

---

۱. امام ابو حنیفهؒ ۲. د اسرائیل وزیر اعظم
۳. شیخ یاسین ۴. علامه محمد اقبال.
۵. د امریکے صدر جارج ډبلیو بش.

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# پښتون قام

چه لا تر اوسه م نهر په بهانو ساتی
چه لا تر اوسه م بندی په قید خانو ساتی

چه لا تر اوسه م محفوظ عزت د خور نهٔ دے
چه لا تر اوسه م پټ سر د بورو ئ مور نهٔ دے

چه لا تر اوسه م بچی بنیږی ابلی بنیږی کر ځی
چه د بابړے کونړے اوس هم سترګے سرے کر ځی

چه د تهکر په بورو امانو له ګولئ وس یږی ځی
قیصه خانه کښ شاه زلمیانو تهٔ نیزے تیں یږی

چه د ماصم په کور اوس و نه ظالمان لګوی
اجمل خټک باندے تورو نه رقیبان لګوی

د غازی کمل بابا جمات کښی کر بلا جوړه ده
هډه کره څه کښی د بابړے واویلا جوړه ده


www.pukhto.net

ځوانان مو مړۀ شو د تورسرو عزت ترنه لرې شو
کورونه څخه جماتونه قرآن نه لرې شو

جلاوطن ئې نن پښتون فخرِ افغان کړلو
کافر غدار ئې د کرمنې په سود او زیان کړلو

د مشرانو ادیرې مو جیلخانې جوړې شوې
د خوېندو لوڼو سرۀ بنګړي مو زورلي جوړ شوۀ

ګناه مو دا وه چه غر بنستنه مو د ننګ کوله
بل مو غندنه د ظلمونو دَ قیوّم کوله

یو خواته پې مشینونه دي فوجیان ولاړ دي
بل خوا د عدم تشدّد پیغامبران ولاړ دي

ګټه به څوک کړي فیصله به مونږ په وخت پرېږدو
د اتلونکي نسل ته به بس یو نصیحت پرېږدو

تر څو به مونږه د بنګلو څو اکیدادي کړو
تر څو به مونږه د غاصب منت زاري کړو

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

تہ څو بہ مونږ شتہ د تړا کانو کښې شمکوړہ اوسو
تہ څو بہ مونږ پہ تھرک د ودې چے نسکورہ اوسو

تہ څو بہ مونږ د مسافر د خپلہ کوړہ او سو
اخر تہ کوے بہ جدا د خپلے مورہ او سو

راځئ ملګرو چہ د حق تیرس پہ جار اوکړو
یو ځلے بیا لکہ سن تیس کړا پہ دار اوکړو

دلراو یو تر مینځہ کړ بنې نہ انکار اوکړو
نہ بہ تیتیږو نہ خرخیږو دا اقرار اوکړو

قسم بہ اوکړو د بابړے د شہیدانو پہ نوم
یا بہ تھکر د ژوبل شوے برډا کانو پہ نوم

پہ مچھ دیرو حیدراباد کښې د قیدیانو پہ نوم
دھری پور پہ جیل کښې بنځ خدمتګارانو پہ نوم

دکوندو د ندو ماشومانو یتیمانو پہ نوم
دخوارې کښې مسافرو مزدورانو پہ نوم

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

جلاوطن د خپله کوره لیرې د انو په نوم
په حق ولاړ د قام پرسته شاعرانو په نوم

د خپلو ژوبل احساسونو به تپوس کوو
د تالا شوې ارمانونو به تپوس کوو

د تار تار شوې عزتونو به تپوس کوو
د کونډو رنډو د ویرونو به تپوس کوو

ناحقه شوې د ظلمونو به تپوس کوو
د نکیدلې الستامونو به تپوس کوو

د زمرودو د کانونو به تپوس کوو
د نیلام شوې ځنګلونو به تپوس کوو

د تربیلې ورسک ډیمونو به تپوس کوو
د خپلې خاورې د حدونو به تپوس کوو

په کومو رخفه دې ایمل خان او خوشحال خان ملګرو
چیرې د انده کړل د خیبر ښتنه ازمریان ملګرو

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

دا اوده شوي ضميرونه ويښوه ول غواړي
دا د نفاق تړدهٔ اودونه سره ول غواړي

سو اتئ ابئ او ملالۍ دي په لړزان بچو
نوري سر تور دے جوړ نه شي دا فغان بچو

د درانۍ ارمان پوره کړي سرے جنډے پورته کړئ
اے شاه زلميانو په يذيد پسے د ننډے پورته کړئ

د وخت فرعون ته يو اواز شئ خپل جانان اوګټئ
دپلار نيکهٔ په وينو رنګ پښتونستان اوګټئ

۱۲ - اګست ۱۹۹۰ء
دَ باړے ورځ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# دَ بالاکوټ ازاد کشمیر زلزله

په بالاکوټ مانسهره ازاد کشمیر قیامت دے
خلهٔ زمکې نولے د به پټ پکښې ستا حکمت دے

خو زده تهٔ ګیله مِ دا شي چه یتیمان او وینم
دا بے کفنه مړي چه په میدان او وینم

دا بے اسرے جونے بے لاسو ښپو ځوانان
کورونه داسے پراته ځکه چه وَټ شي تالان

هغه ناسپړ دے کلیٔ هغه نازک ګلونه
هغه د زړګے خوږے د نوره ډک مخونه

هغه مسکن د لعلو د سپرلو ډکه خاوُره
چه د ننبترو په سر به ئې پړ ته وه واوره

هغه د ننګ شنهٔ غرونه چه د عظمت نخښې وے
سپینې چینې د اوبو چه دَ جنت نخښې وے

کن فیکون ربّه ستا دقدرت نه قربان
سر په سجده شو غړونه ستا د طاقت نه قربان

سحر چه سکول ته تلل د ژمي خوږ دے رغلمان
اختر نزدے دے بے بږ مونږ به اخلے بوټان

بسته کښی کیږدہ راته سړې دوه دوی او غوزان
سکول ته چوڼے نه راځي میاشت ده شروع د رمضان

په بنیو زړه دے چیتره او بے تښو وکړو یوان
په خوشحالو د اختر سحر دکور شو روان

څوکم په نهه بجے چیغ سودے جوړ دے شوے
په جنتی زمکه داور لمبے جوړ دے شوے

د هر طرف نه راځي دخوږیندو لوستو فریاد
وړیځ د محشر ده نبیؐ ته زمونږ اوکړے امداد

د چانه بنیمیږی ډیر شوے د چانه کټ سره ونه
مقتل خانے شوے راته خپلے حجرے کودونه


www.pukhto.net

د روس نه را غلو ماته چنړے پسته او با دام
چوهدری خالی کړو ورته چل د غمونو کړ دام؟

در آنی کړه ئے خبر داد ے د دب امتحان
هغه قادر دے وینی پټ او ښکاره داستان

۸ ر اکتوبر ۲۰۰۵ء

---

۱ ر صدر پاکستان جنرل پرویز مشرف
۲ ر چوهدری پرویز الهیٰ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# څوارلسم اګست ۲۰۰۴ ء

دا په کوڅو کښې چه بنیږې ابله ماشومان ګرځي
په سرو غرمو کښې سرتور پښې سپېرې ګرېوان ګرځي

څوک په سختۍ کښې د بازار مزدور ته دوه ډوډۍ لټوي
څوک په کباړ پسې د کلي په ډېران ګرځي

څوک په پیوند پیوند لمن د خان موټر صفا کړي
چا د ګنګرو تال په سر اېښې پرېشان ګرځي

د خپل بناځت نه ناخبره یو روپۍ د پاره
دوه لچه په لاس د سپېلنو سپړ دے ګلان ګرځي

د دوی ګوګل کښې هم زړه شته دے ارمان نه لري
په دے ازاده خاوره څه نه څه حقونه لري

دوی نه کرسۍ او نه عهده نه وزارت غواړي
نه تحریک مار او نه موټر او نه شهرت غواړي

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

چا د خراسانۍ ورځې سحر دي کړي په فتح پاڅو تیر کړي؟
چا په خواجه بري امام کړي په خیرات تیرے کړي؟

د چا سلګۍ د نن ایا نو د عظمت نخښې دي
د چا خوښې د سردارانو د دولت نخښې دي

د چا په وینو د چوهدریانو محلونه رنګ شو
د چا په اوښکو د خانانو مقامونه رنګ شو

په دے کړی ما ته والۍ راشه او جشنونه اوکړه
ه ازادۍ د نوے ناوے دیدنونه اوکړه

زه د قام سترګے یم احساس لرم شاعر یادیږم
چرته خوشحال چرته اجمل چرته خاطر یادیږم

د اوچو شګو نه محل په بیابانو جوړه وم
د قام بچو ته د صحرا نه ګلستان جوړه وم

زما بچي لا په فتح پاتو باندے ګذاران کوي
په مارو خېټه په غم خوب پسے ارمان کوي

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

په کومه ورځ چه دوی مارۀ شي او خوبونه اوکړي
زما قلم به ستا د ناوے صفتونه اوکړي

اوس لا د دوی او بنګے او چومه دراٰنې په ملمن
چرته لتهوم دے ژوندو مړو ته ټکړے د کفن

د آزادۍ ورځ ۲۰۰۴ ء

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# احساس

تور ځادر چه په اسمان د تیارو خور شي
خپل وجود را ته سقر شي غوښې اور شي

د رتیتي ګناه نه دومره لوے غر جوړ کړم
چه خیبر او هندوکش ور ته کسکور شي

هره شپه عرش لړزوومه په آهونو
ګنبدونځے مسکوت مات زما په شور شي

اسویلو کښې مې سپرغۍ ځي تر اسمانه
دژوندون سپرلی به څهٔ زما سمسور شي

سلیمانؑ ته ئے مهلت نهٔ دے ورکړے
ناممکن ده چه دګور شپه دې په کور شي

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

کوم انسان چه خپل طاقت باندے مغرور شی
د نمرود هسے دَ ماشی د پیغور شی

د ژوندون همه رازونه دا معلوم شو
داجل وړاندے او به د مثهو زور شی

تیره پنځے چه مرګ بنځ به ژوندون کړی
ذهن شل شی دانسان سترګے شمکور شی

تبنته تبنته درآخے دَ هغوی تبنته
چه دولت د چا مذهب عبادت شکور شی

۱۷ فروری ۲۰۰۲ ء

کورنګی کراچی

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# د مظلوم په طرحه

سره یو شئ افغانیانو په خیبر او تاتره وکښې
ټینګ لاسونه سره ورکړئ سمو غرونو او میرو کښې

د نفاق پنجرې کړئ ماتې یو ځلۀ اویدا وانشئ
څو به اوسو پټې سترګې د حرص تورو تیارو کښې

د شهباز په وینو سرې کړې تپوسانو تورې پنجې
ګیدړ ناست بره په تخت دې قینزې اچوي زمرو کښې

چې اټک په کښې وژلې د مغل دېرش زره فوج دے
نیلاب میږې عزت تو نه نن زمونږ هغه درې وکښې

سوات باجوړ وزیرستان کښې سره او رونه واته بل دي
څو به لوڅې پښې منزل کړو بې قصوره په ازغو کښې

د وطنه چې قربان شي ژوندي اوسي تر قیامته
د هارون تره تر اوسه جړنې ستا ځئ په تهپو کښې

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

هندوکش دا نه قبضه شو د خيبر فخر چونه تاڼ شو
کفن او شلوه ملاٴ ے غيرت وا چوه ن لمر کښ

د سپي غر بنځے په والله که سپي خو بهٔ وي تر او سه
مونږ ه خو د و د بچو غر بنځے د سامراجو په تالو کښ

انتها د ناپو بنتيا ده ورور د ورور سره په جنګ شو
چونه ډونډ ورک شو تسبو کښ بل ته ډونډ بنکاري پيسو کښ

مايوسي کفر ګناه ده لا مايوس د وحدت نهٔ يم
هميشه پڼے پر تے وي د غيرت سپرغۍ ايرو کښ

نور منت زاري ے مهٔ کړه د راتخے کو تک ته لاس کړه
کښ ه خلهٔ په سوک سميږي د امثل دے په ښپنتو کښ

---

ل د ۱۶۷۳ء واقعه ده تاريخ ليکي چه د سپرلي موسم کښې د دے مغلو سپاپانو يوه صافي پيغله او چيړ له ـ صافي قام هغه د دے سپاپان قتل کړل ـ د کنړ حاکم حسين بيګ د هغوی د بدل اخستو د پاره په صافي قام حمله او کړه خو شکست ے او خوړ و ـ په دے خبره د کابل صوبه دار محمد امين خان ډير غصه او خفه شو ـ او د صافي قام نه د بدل اخستو د پاره

www.pukhto.net
Scanned by CamScanner

ئے یې غټ لښکر تیار کړ و ۔ محمد امین خان سره د مغلو په دے لښکر کښې خوشحال خان خټک بابا او د مومندو مستجاب خان ارباب هم شامل وو ۔

دا د پښتنو د عزت جنګ وو نو خوشحال خټک په پټه صافی قام د محمد امین خان دارادے نه خبر کړو چه هغوئ هم جنګ ته تیار دے او کېږی ۔ صافی قام د مومندو افریدو او شنوارو نه د پښتو او پښتون په نوم امداد او غوښتو او هغوی د پښتون د ننګ په نوم یې او ان شو او د مغل فوج ته ئے د خیبر لاره او نیوه ۔ په دے جنګ کښې د پښتنو سر لښکران ایمل خان او دریا خان وو ۔ د تاریخ ځنې کتابونه لیکی چه په دے جنګ کښې د مغلو دیرش زره فوجیان مړه شوے وو ۔ و لے خوشحال خټک چه په خپله هم په دغه موقعه د مغلو په لښکر کښې شامل و و ۔ د مړو شمیر څلویښت زره لیکی ۔ دا د عظیم مغل سلطنت په پښتنه سیمه وړ و مبے شکست او د زوال ابتدا وه ۔

۲ه هارون هغه ننګیالے تورزن وو چه د ملاکنډ په جنګ کښې ئے د انګریزی ترېچې په توره حلال کړے وو ۔ هارون خپله هم په دغه جنګ کښې شهید شوے دے و لے پښتنو جونو ن هم خپل تورزن وردور په دے ټپه ستائلی ە

په ملاکنډ توره تیارهٔ شوه

هارونه توره کلوه چه د نرا شینه



Scanned by CamScanner

۳ـ انګرېز فوج چه کله په ے وند د جنرل براوّن په مشرۍ کښې حمله اوکړه ۔ او د پښتنو شاه زلمو حوصلے پتے شوے نو یو ے لوګرے پېغلے ملالے دے خبرے سره د جنګ میدان ته داوړه او د ټکل چه سبا ته مو سامراج فوج د عزت لوټ کولو نه پس د زلالت په مرګ وژنې نو ځان په ترتوب او میړانه ولے ځانونه نهٔ وژنو ۔ دے خبرے په زلمو کښې دومره جذبه پیدا کړه چه جنرل براوّن ئے په تیښته مجبور کړو ـــ ولے سامراجی فوجیانو په تلوتلو کښې د ملالے تنتر په ګولو سورے سورے کړو او هغه دے وند په جنګ کښې شهیده شوه ۔ داخو نوموته زما په نظمونو کښې بار بار راځي نو وضاحت مې ضروري ګڼړو ۔ باقی په دوی تفصیلي خبرے زما د نثر کتاب "زما کالم" کښې موجود دی ۔

د راقم

۲۴ ـ اکتوبر ۲۰۰۷ ع

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# مزدور

مسلمان او انسان خو چې زه کم تر یم د حیوان
نه په پښو کښې مې څپلۍ وي نه ټټرۍ مې په ګریوان

نغرے مې سپېره پروت دے ماشوم مې د لوږې ژاړي
بې پړونې مې لور ډکۍ ده بې ډډۍ مېرمن په لړزان

ستا په دومره لوی جهان کښې ربه زه په داسې ناست یم
د ورے ښلو نه مې پناه شوه د کور ځي لې په ارمان

سیلابونه زلزلې دي دے د ربه مونږ له دي سالې
د دنیا زبیږ په دے چې دے نه کلی وي نه باران

مونږ او بې باندې هم ربه الحمدالله وایو
ناشکري کولے نه شو په دې حال کښې د ژمان

ماشوم زوے مې راته وائي بابا ما ته څپلۍ واخله
چې پترۍ داوړم پښتې نه بنيږي مې غرسے کړې ځوړان

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

تل دې مونږ سره خالقه د میرې مور سلوک کړے
خو د شمعې په سیزله خوشحالیږي پتنګان

دا چرګان چه هضموي په شرابو اے خالقه
چه دے رحم په دوي ونیم زړهٔ ته راشي م خفګان

په ژوندون د دوزخ کښې پروت یم په وجود دِ او ربلیږي
تماشے ته مِ راغونډ دي د دنیا واړه خدایان

دَ لوړکي مِ د تورخې نه نرے د نغوړ کسه لو غربت
مسل روپۍ مِ من دوري ده څنګه واخلم داروګان

په دوه نیم سوه روپۍ شوه د وړے کوره په بازار کښې
د دالو نو تپوس مهٔ کړه شي خطا به دې اوسان

پرون کال چه په اختر کښې مو غوړ لږ پراته دي
شوه جبیګ د ماشومانو د غوړ مخې په ارمان

اے د عرش او فرش واکداره دالا څنګه برابري ده
ګډه وډه معامله ده شوم انصاف ته دے حیران

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

دآدمؑ حواؑ اولاد دے داجوړګړو کښې چه اوسی
د رحمت دروازے بندے ولے دوی ته داسمان

د جنت مسلې ربّه په مړه خیټه منو کړی
مُلاجان په خیټه موړ دَ حُکم ستائی حوړے غِلمان

نور ژوندون تیر ولې نه شم د جنت په طمعه طمعه
هسې نه چه مِ خالقه لوږه تنده کړی بے ایمان

د خانانو په دوزخ نور ذلت مِ قبول نهٔ دے
دادمؑ اولاد زردار دی خرېږی مونږ غریبان

د جنت دوزخ قیصه دے هم غریب لره پر که ده
جهان نه دے اباد کړو دَ نړئ و په اذان

دلته مونږ نسکوږ پراته یو پښځهٔ وخته ستا لویئ کښو
د جنت به د نګینو به دے خانان وی مشران

داسنګیَ دَماشو مانو به ایمان مِ کړی کمزورے
چه په تنده تنده ژبه دبابا غواړی ګمان

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

پېیلئ غونډې لړکې شو تل د بل د عظمتونو
د بهٔ مومنږ نه خوړے غوړه دننه د دار د کور ویران

شیش محل که تاج محل دے که د چین عظیم دیوال
بنیادونو کښې ئے ښخ دي په لکونو مزدوران

دُرّانی دلته بهٔ مړ شو ربهٔ دلته کښې ئے ورکړه
دَجنت شراب شو دهٔ دے شي نصیب د مُلا جان

۲، جولائی ۲۰۰۷ء

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# د امریکې صدر جارج ډبلیو بش ته پرانستې خط

لا دے کړے مونږ ته د ازغو ډکے دې
سینې زمونږ د حوصلو ډکے دې

پل صراط به ورته سر کړو بُشته
د کابل خاورے د سېرلو ډکے دې

که دوه خلور زره قربان شو خیر دے
درّے زمونږ د شنو زمرو ډکے دې

د الوېلو غرونه چه خاموشه وینے
شونډے د دوی د باتورو ډکے دې

میندے زمونږ شوے د ژړا بلدے
ځکه ئے اوښکے د جذبو ډکے دې

شرنګ د بنګړو شور د ګولو شو ورته
شسنې له پتهې به وینو سرو ډکے دې

دافغان لښکرو د خیبر خفه دي
ځکه سلګۍ ئې د ګیلو ډکې دي

اور ورته بل د خپله کوره شو لو
پور ورته لمبې د اسویلو ډکې دي

په عارضي فتح جشن مۀ کړه بُښه
لا خوږې چالې د بچو ډکې دي

تا د افغان تاریخ لوستلے نۀ دے
ټولې صفحې د قربانو ډکې دي

خدائیګو قدم کۀ په سینه ئې پرېږدي
د کابل خاورې د پښتو ډکې دي

دَ روڼه سبا په انتظار دراځي
خیر دے کۀ شپې د شوګیرو ډکې دي .

۲۔ فروری ۲۰۰۳ء

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# د زړهٔ اواز

ما ته د مينې کرونده کښې سوردګے اور اوکړئ
د دے هيواد غمونه ټول زما په لور اوکړئ

لکه پتنګ به ځان ستي کړم د پښتو په شمع
د پښتو نخوا همه ازغي زما په ګود اوکړئ

په کومه لار چې ميرويس بابا قدم ايښے دے
په هغه خاورو کښې زما د سترګو تور اوکړئ

د پښتو ناوے د اروانه ده په خپله راځي
ټول سره يو شئ د نفاق تخم نسکور اوکړئ

کهٔ په ريګزار هم د جنت نظارې جوړې نه شوې
بيا مې د ژوند په هره پانړه کښې پيغور اوکړئ

د وخت ستم د لر او بر پښتانهٔ يو کړو سره
حالات سازګار دې په نړۍ د پښتون شور اوکړئ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

درآنی لاړه یو ویشتمه پیړۍ هم اوو ته
حلمی بیدار کړی به سینو کښی ورته زوراوکړی

---

# بدنصیبه کابل

بوی د بارودو دے چې د نې د بمونو کیږی
له بې شروع دی نن زما په ارمانونو کیږی

د وخت ستم بې غیرتی که بې وسی اوګڼم
حملې په ما چه د خیبر د دنګو غرونو کیږی

ملا ذلیل شي چه ذلیله دے زما خاوره کړه
نیلام شروع دے سر عام د افغان جونو کیږی

د اخرت اختیار دے هم د ربّه واخستو
هره جمعه د حورو ویش په جماتونو کیږی

مذهب بدل شو که د زوړ مذهب کمے پوره شو
په مسلمان هم اوس فتوے د جهادونو کیږی

امام بارګاه کښې ئے خودکش حملے روا کړې ربّه
بې حرمتی ځکه زما د قرآنونو کیږی

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

چه په میدان کې غر پنې خټه هډو کې سپه او خوړل
نن هغې مړو ته چندې د کفنونو کېږي

داکرم مذهب دې مړ شهید قاتل غازي شو دېته
ستا د حکمونو مخ نیو ې په دالرو نو کېږي

مه خوشحالېږه ملا جانه چې کابل مې وران کړو
دا خو د للمو او یه خورد زما په وینو کېږي

په مرګ خفه نه یمه ډار مه په دې درآخې
سازش د مرګ مې د جمات په ممبرونو کېږي

۲۰ - جنوري ۱۹۹۸ ء

جلال اباد افغانستان

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# پخوا

نهٔ د ډوډۍ خبره نهٔ د پیسو غمونه
لکه بې ګرده شیشه صفا وو داسې زړونه

بې غلې ګرله نهٔ وو د خود غرضۍ او لالچ
لمر به هم تمو کول بې اوبو سره ګلونه

د حجرې ګوټ کښې منګې کټ نه ولاړ چیلم
مستۍ چه زور به اوکړو چیته به شو چرسونه

د نیمې شپې پورې رباب منګې او ټپې
نهٔ د بجلۍ لا بجې وې نهٔ وو د ګیس بلونه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

پیئ او شو ملے څۀ چه کوږم او غوړې بېسیا د
وه د ور بښو ډوډئ د مستو ډک جامونه

تۀ نکه کښې ناسته ناوے چاپېره تاؤ ترے ښادد
نکه چه پټ سیپئ کښې وی په دریاب لعلونه

کینه بله پرېښه شو کړ هډو چا نۀ پېژندو
دایمن وجود نۀ وو نۀ به زیړې مرګونه

کاش درآنی چه تۀ هم پیدا وے هغه وخت
نۀ د وصال مزے وے نۀ د فراق اورونه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# د نمر خیره راخیژی

حالات چې درې بدلیږي د سنگر نه پته لگی
دے سپینو سپینو اوبنکو کښې جذبو نه پته لگی

نغمې د انقلاب دې ستړکے سرے د ننګیالو شوے
حقونه په زور اخلی ولولو نه پته لگی

د جونو لو پتې چه د ظلم مخکښې جنډے شوے
د نمر خیره دا خیژي نظارو نه پته لگی

آموُ نه تر جهلمه پښتنو جرگے شروع کړے
په لاره د خیبر د قافلو نه پته لگی

کړئ پیوندونه د اتفاق او اتحاد
په سیمه د کابل د معرکو نه پته لگی

د ستر بابا ارمان به د را ښیٔه اوس پوره شی
پښتون یوه نعره شوه د جلسو نه پته لگی

۱۰ جون ۱۹۸۷ء ژوب بلوچستان

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# تظمین د ډاکټر ننګیالي په نظم

سرشینده په دے خاوره میراث م د بابا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ماده

ستا خړکې چودی اوچ غرونه پښتنو لره جنت دے
که خیبر د عظمت نخښه هندوکش دک د غیرت دے
ستا ملا له کښې همت شته ستا ایمل دکا فی سخت دے
ستا په مینه کښې پرېښوګ احمد شاه د ډهلي تخت دے
دمیرانے دے وطنه سامراج هم کړے صفت دے
دا چه نن په وینو سور ګے دملیانو شرارت دے

سل تحې دے ستا په سر شم شاعري م ټوله ستا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ماده

او به څادی بیلې کړے اے وطنه په دا ننګونو
لر او بر به جدا نه شي د فولادو په بندونو
پښتون تل ما ته خوږ لے د ملا په ساز شونو
لږ نظر څوا نانو اوکړئ دا افغان په تار یخونو
د سن تیس قیصه کړئ یاد ے د جمات په ممبرونو
د میږې په کتاب لیک دی په خدو خوږ و شعرونو

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ملا جانه کړه نخاړه او س بیداره پښتون خوا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ما ده

مونږ ه تل په خپلو وینو د قام کړے تاریخونه
د وطن په پاکه مینه مونږ شیندلی دی سرونه
نن دا نه د خپلو اکئ کښې نیلام شوے موکوړونه
محفوظ نه دی پاتے شوے د لوګو عزتونه
مشرانو مو تیر کړے ستا په سر باندے قیدونه
د ظلمو لاس کښې بنګړی دی زولنې او زنځیرونه

د آموتو ترچهلمه جوړه شوے کربلا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ما ده

ستا په مینه اے وطنه مونږ اخستې تهمتونه
روس نه ازیو تل یاد شوی خیر م نه دی تیر وختونه
امریکې وو خواره کړے په ملیانو د السړو نه
مدرسو نه ئے جوړ کړے د عسکرو سنګرونه
خونه رنګه د ملا شه کړه ئے وران زمونږ کورونه
لر او بر کښې ئے خواره کړل د بارود سوروټونه

تل م کړے اے وطنه ستا په بده ورځ ژړا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ما ده

www.pukhto.net
Scanned by CamScanner

د پردو به څنګه ګېله کړم چې بچي مې لړ مان شو
لړ برل به مې په غېږ چه هغه خلق غدار ان شو
هم هغې تالی کښې تړلی چه په کړم تالی ځوانان شو
وینې څڅکې مې د وجود نه جوړ زنځیر خامار ان شو
د غیرت پګړی ئې لر کړې د سامراجو دلالان شو
د ملا په جال راګیر شو د هشت کرد او طالبان شو

د رنه زار شمه وطنه ستا سپېځلې هره خوا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ما ده

کړو راویښ به اے وطنه پېر وکار د پیر روښان
په جرګه به کور ته ورشو د ایمل او د دریا خان
خر خیبر کښې به بیدار کړو د خوشحال میر وس بچیان
فکرمه کړه لاڅو وندی دی ستا د خاوره پېتنګان
غوره شه غوږ شه د ولږ غېږي د اروان شولو کاروان
ورته لاره ده بنو دلے نر پښتون فخر افغان

لر او بر سره یو کېږي دا د دېر رنګ کښې قضا ده
اے زما خوږه وطنه ستا ساتنه فرض په ما ده


www.pukhto.net

په ایږو کښې لا سپرغۍ شته د خیبر په ډنګو غرونو
خپل کفن به لوپټې کړی اے وطنه ستا په چونو
ستا کنډر کنډر کور ړونه مونږ ته غور د محلونو
ازغکی به دے ورنه کړو په میو د جنتونو
ملاجان یو تن لو تلے د قسمت په ایا تونو
ستا په غیږ مو مرګ قبول دے په تعویذونو په تهینکونو

ددے دور هر ملا ته دا آنی ترلے ملا ده
اے زما خوږه وطنه ستا سا تنه فرض په ما ده

دا سلګۍ سلګۍ ماحول به اے وطنه بیا خندا شی
دبارود دا تیارے به درنګ ساعت له رڼا سبا شی
پیغ دودونکی ماشومانو کښې به جوړ میر وس دریا شی
دابرینډ نهرجې به ستا دخاورے نه فدا شی
دازغو څوکے به ګل شی هر طرف ته به ښکلا شی
دادوینو سره د اغونه به غانټول لونګ لالا شی

دا وطنه به ابادیږی اراده مو لا پخوا ده
اے زما خوږه وطنه ستا سا تنه فرض په ما ده

---

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# زوال

چه د تورو زلفو تیر دے شی دوران
کړی ځوانی دړ ته د ښیښې ړ ښیښې خزان

چه دَ حسن په منډۍ شي بے قیمته
دکوڅے نه دے رخصت شی دلالان

دا کلۍ کلۍ ځوانی چه دے ازغی شی
بلبل څۀ چه تښتنه اوکړی بورا ګان

بیا سلام دَ دَ ړ آخرے د قبر اوکړه
په مزار دےٚ او ښکے تودے کړه دَارمان

---

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# اے زما محبوبه ربه

که زما او ستا په مینه د بد خلق شو خبردار
د منصور د غر نه دے به ما هم بے قصوره کړی په دار

د خپل نفر د ښنګان ګوره اسماعیلؑ قربانی کیږی
د کب خیمه کښ یو نن دے ابراهیمؑ ته اور تیار

د بلالؓ په سینه کیږی لغر پروت په ګرمو شګو
او یزدان لاش د عثمانؓ شو چوړ ابنه کښ د بازار

د حمزهؓ کلیجی ګوره د هندے سره په لاس کښ
و بنګی سره د اسې په وینو لکه سرمخ وی خونخوار

کربلا د غمه ډاړی د حسینؓ و ینے پرې توئے شوے
هم هغه تماشه کړی چه د چا شوله ننداره

د آدمؑ نه تر دے دمه هر عاشق دے په دار کیږی
یعقوبؑ په ړوند شوله فراق کښ یوسفؑ ګوره ته شو ګذار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

اے زما محبوبه ربه عجیبه دے فلسفه ده
ما جاهله ته خو ینکاری لکه او بنه بے مهار

د موسیٰؑ فرعون ترمینځه څهٔ ذاتی دشمنی نشته
داجګړه ستا په ذات ده فرعون تا نه کړی انکار

بیا هم اے منصفه ربه موسیٰؑ اوبډ خیته کړ ځی
د فرعون په بډیره کړ ده ملغلرے دی قطار

کوم څهٔ چه دے قانون وی خو مخلوق ته نظر اوکړه
یو سیکن شو د چرګانو بل سکړک ته بے قرار

هغه او ګوره کافر ته چه سپو بو مئ کښے درته خاندی
ماکړه خپله ځوانی خاورے په توبو او استغفار

مال دولت بنا کټ ډیٔ وړکړو د خدائی نه چه منکر دے
زهٔ غزله د دیوان شوم تل په خلهٔ م ستا اذکار

خفه نهٔ شے اے خالقه خو د اکرم عدل انصاف دے
هر ظالم په منډو سر وی خوار و زار تول پر هیزګار

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

ملا جان په ممبر واېي هر سخي به جنتي وي
د فرعون عمر دراز کړو په خیرات غني غفار

هر ظالم له دے جبر کړے په دنیا پاتے جنت دے
ما ته واېي پاکه رب د مرګ او کړه انتظار

ستا جنت به هم د خان وي خفه نه شے لوېه خدایه
خیرات او کړي په حرام شي سخیان کښي به شمار

غریبان به ځي دوزخ ته په ګناه د ماېه سۍ کښې
نه ئے دلته قرار او موند نه ئے هلته شته قرار

دا او به دے تسبې به لاس چه ته له ورځ کوشو کښې ګرځي
دا دپیر مجنونان دي د به ما نه کړه قلار

ملا جان په فخر واېي زه نائب د پاک الله یم
د خالق مخلوق ترمینځه زما کار دے د دربار

اے زما محبوبه ربه د دربار یاري دے نه کړم
د عاشق معشوق ترمینځه مینه خوند کوي په چار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ستا په مینه مې سره تېرېږي دے په جنت دوزخ دې نه یم
چه لالچ ئې وي تر مینځه محبت شي کاروبار

کعبه ځکه یو کوټه ښېري ده په صحرا د خړو کاڼو
برکت خو ستا د نور دے چه ئې خلق کړي دیدار

کهٔ په بدو د شو تر تو اے خالقه ستا جنت وي
دراني خوشحال دوزخ کښې د جنت نه کړي انکار

غني اختر

۳۱- دسمبر ۲۰۰۶ء

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# یوه حادثه باندې

د بې چاره ګیله اوکړم چاته او کړمه فریاد
او مې خلهٔ بچي مې ژاړي ځپل د ادا شول ورياد

د دې ژوند نه څهٔ مطلب دې لکه کونډه پټ پټ ژاړم
و اته داسې ښکاري د بهٔ چه زهٔ نهٔ یم آدمؑ زاد

بې ګناه په تخته پروت یم په مرګ مې جلاد ناست دې
ورته حکم ورکړه د بهٔ د دې ژوند مې کړه ازاد

تهٔ د زمکې تل کښې وینې تور میږی په توره ګټه
اوویشتمه سیپاره کښې ما لوستلې ستا ارشاد

بې ګناه دا ته خالقه چا ظالم چاله تس نس کړه
لکه ماتې شي طوفان کښې کچه تیغه د شمشاد

د به ځپل طاقت ښکاره کړه دا ګس نکې ژبې ګویا کړه
درانې درته زاري کړي چه شي ختم دا فساد

۱۲ـ مئ ۲۰۰۷ سنخاکوټ ملاکنډ ایجنسی

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# کوکۍ

ستا قسمونه ستا لوظونه م لا هېر نۀ دی
ستا منتونه ستا نازونه م لا هېر نۀ دی

هغه د غرۀ لمن کښې ناسته د ښښتې په سوړې
ستا دوړو په شان صندونه م لا هېر نۀ دی

د مینې ترل به دے زما په مات بنګړی کوۀ
هغه مستی هغه ټوپونه م لا هېر نۀ دی

په هیره ما به چه نامه د بل چا واخسته
په ترس کاتۀ شونډو چکونه م لا هېر نۀ دی

نۀ وه خۀ یره د اغیار او نۀ ئې منځه رقیب
ستا په ښنکل خوا ښۀ خوبونه م لا هېر نۀ دی

کله بهانه د امتحان او کله کړ د ګلو
هغه بسیاره دیدنونه م لا هېر نۀ دی

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

هغه دنیا ته بدے ردے او تیر وته منت
هغه دَ مینے دک وختونه مِ لا هیر نهٔ دی

خلق سحر به په اذان چه کلمې وئیلے
ستا ستغے پورے کنځلونه مِ لا هیر نهٔ دی

د زلفو تار چه به کوندهٔ دے شوه زمانتړ وته
هغه فریاد هغه آهونه مِ لا هیر نهٔ دی

تمامه شپه به په ګیلو مانو کښې تیره شوله
ستا خنداګانے ستا ویرونه مِ لا هیر نهٔ دی

دَ لاسو مات بنګړی تر اوسه دے په جیب کښې ساتم
ستا په ویښتو کښې سرهٔ ګلونه مِ لا هیر نهٔ دی

دوه تصویرونه ددے خطونه او څو اوچ ګلونه
ستا د الینې سوغاتونه مِ لا هیر نهٔ دی

هیر مِ لا نهٔ دے ستا په بره شونډه خال کوکئ
هیر مِ لا نهٔ دے ستا د زرکے غونډے چال کوکئ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ښته دے ښته کاڼا تو کښې دے سیال کوکۍ
مګه بلبل تر اوسه ګیر یم ستا په جال کوکۍ

یو ځلے بیا په دے لار داشه په زوړ خیال کوکۍ
درته نیولے مې جولۍ مخکښې د سوال کوکۍ

د غوټۍ د کاڼو دے تر اوسه تپوس نه کوم
د ګل د پاڼو دے تر اوسه تپوس نه کوم

ته دا ته وایه چرته زۀ درته یادیږم که نه
سکښې ی مابنام کښې په زړګی دے راوریږم که نه

دړمی شپو کښې دے په سترګو کښې غړیږم که نه
ګل له چه ورشے درته وپاندے وپاندے کیږم که نه

زۀ خو تر اوسه انتظار دے دراتلو کومه
خزان کښې ناست یمه سوالونه د سپرلو کومه

په کور د بندی شوم د جهان نه مې زړۀ تور دے کوکۍ
سپرلے سپرلے ژوندون مې بے له تا نه ګور دے کوکۍ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

خپله وفا ځېل محبت دا ته پېغور دے کوکئ
سمسور سپرلی کښې مې د مینې باغ شکور دے کوکئ

٥

بیا هم تر او سه هره شپه د امید شمعې بلوم
بیا هم تر او سه ماشوم زړۀ ستا په یادو غولوم

کله داوا خلم مات بنګړی کله خطو نه کوکئ
کله کتاب نه ستا دلاسو اوچ ګلونه کوکئ

خمارو سترګو چه راکړے کوم زخمونه کوکئ
خدائیګو تراو سه مې تا نه دی پرهرونه کوکئ

تاخو زړۀ هیر کړم اخر زړۀ دے خنګه هیره کړم
شمکوره نۀ یم چه د زهرو پیاله تیره کړم

بیا سپرلے راغے ځان سره ئې د یر یادونه راوړل
زما په لور ئې په دلو دلو غمونه راوړل

هره کلئ هره لورلئ دا ته پېغور راکوی
ګل دا ته شاکره چه په خۀ خبره زور راکوی

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

باقي ژوندون مې د يادونه مقبره ده کوکئ
په هر يو ځلى ستا د لاس خوره سهره ده کوکئ

سکڼړى مابنام کښې چه چرچنړے شور خنداجوروکړى
دو رځ د مړا ته چه تيارهٔ ځان نه بلا جوړه کړى

زما په لوري د غمونو قافلے را شى
د زړهٔ په کور مې د يادونو سلسلے را شى

کله تيرو کښې ستا د تورو زلفو تار لټوم
کله تيرو کښې د ورک شوے ژوند اثار لټوم

کله تقدير ته بد رد وے کله رب ته فرياد
عبث سکون د تورے شپے کړم د ر آخړ برباد

۳ , فروري ۲۰۰۷ء

## د سوات په بمبارۍ

# جنرل مشرف ته

تا د پیر بابا او پیر روښان بچي چیړلې دي
تښتته د سامراج تهتو مچۍ دې پارولې دي

دلته د میرویس د سترې لارې پښتنګان اوسي
دلته د خوشحال خټک د تورې وارثان اوسي
دلته د ایمل او دریا خان په پل روان اوسي
دلته د ابدال فرید هوتک صادق بچیان اوسي

مټل ئې د اغیارو کګړه وکړې او بهٔ ښکلې دي
تښتته د سامراج تهتو مچۍ دې پارولې دي

دوی کوکارې وچیتې په دې غرو کښې مغلیانو نه
نهٔ دي ویریدلې د جابره یونانیانو نه
منډې ئې و ښتلې په دې سیمه انګریزانو نه
لږ ئې تیروس اوکړه د غیرت د خټکانو نه

www.pukhto.net
Scanned by CamScanner

دوی د خوشحال خان بچی په جېل کالهٔ ساتلے دی
تښتېده د سامراج تمتمو مچئ دے پادو لے دی

دا جنت وطن چه خاورے زر کښے لعلونه دی
تاج په لوړو غرونو د ښتو و ځنګلو نه دی
غورځنګ په مکیز روان په ویښو کښی کے سیندونه دی
ګورو په ګوره ګوردو کښی د شاتو ګبینو نه دی

تا نازکی نرګس د سپیلنو سره سپین لے دی
تښتېده د سامراج تمتمو مچئ دے پادو لے دی

## یادګیرنه :

مغل شاه اورنګزیب چه کله خوشحال خان خټک په جیل بندی کړو نو په لره او بره ټوله پښتون خوا کښی واحد یو سفزے قام وو چه د پښت په پښت دشمنئ باوجودے د خوشحال خان خټک بچو ته پناه ورکړه ـ او د مغلو د ظلم وستم نه ئے محفوظ او ساتل ـ

د راخے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# پیروکار دَمحبت یَم

تل کوومه یون دَ مینے ذهٔ مالیار د محبت یم
د نفرت په ساز چه شلیږی هغه تار د محبت یم

په صحرا بیابانٔ کرځم بنیے یو لیئ دا ته مزل کړے
لټوومه مینه مینه پر ستار دَ محبت یم

بت خانه امام بارګاه ده که ګرجا مندر کعبه ده
احترام ئے په ما فرض د عو یدار د محبت یم

په سکه وتو م زوندون دے یو لحظه سکون م نشته
لا علاج مرض کښی ګیر شوم ذهٔ بیمار د محبت یم

تر قیامت زما جاګیر دے سمندر زمکه او غر و نه
اُمتی د پاک حبیبﷺ یم ستر دستار د محبت یم

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

په جمات کښې چه نایاب شی بت خانې پله دوانشم
دین دهرم مې محبت دے پیرو کار د محبت یم

دَ ژوندون هره کړئ مې دراځي مینه لیک کړه
محبت ز مالیلیٰ ده زهٔ دلدار د محبت یم

۲۳ـ فروری ۱۹۹۳ء

زیارت بلوچستان

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# خان عبدالولي خان ته د عقيدت پېرزونے

## دا ولي دے زمونږ

دا چه سامراج سره جنګیږي دا ولي دے زمونږ
لکه منصور چه په دار کیږي دا ولي دے زمونږ

زمرے زمرے وي په ځنګل کۀ په پنجره کښې اوسي
دا زولنې کښې چه ګډیږي دا ولي دے زمونږ

سینه چه ډال کړي د نیزو سره ونه ټیټ شي ورته
دا هر یزید چه ترے لړزیږي دا ولي دے زمونږ

د لیاقت باغ به هرے اونه د ګولو غښې دي
د څه خدائیګو کۀ یریږي دا ولي دے زمونږ

د حسین زوئے سره ورکوي خو سر ټیټوا نۀ مني
لوبے مرګے ورته ښکاریږي دا ولي دے زمونږ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

پاسه د دې له د سامراج لا چړ دے بل ته ور کړو
سر به مستا خپو کښې نه تښتیږي داولي دے زموږ

د ایوب خان د ضیا ر په دے هر واکدار ستړے شو
پښتون بچي دے نه خوشیږي داولي دے زموږ

د هر یو په جیل چکۍ قاتله ئې د یو یو ارمان
نه به ئې هیر شي نه هیریږي داولي دے زموږ

د مچھ د یره حیدرآباد او هري پور په جیل کښې
مکه د شمعې چه بلیږي داولي دے زموږ

د تخت و تاج نه لا ندے ناست لکه ملنګ په زمکه
اور د احساس کښې چه سوزیږي داولي دے زموږ

مرکیه څه که دے دستر کو نه پناه کړو سرا ته
زموږ په زړونو کښې اوسیږي داولي دے زموږ

چاته وئیلي دي زلمو چه موږ به ښاد شو له تا
بچے بچے تره قربانیږي داولي دے زموږ

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

شل کاله مخکښې ئے انجام وو د کابل ښنو دلے
هره خبره ئے رښتیا کیږی دا ولی دے زمونږ

ولی وے جنګ د اقتدار دے د جهاد په نامه
نکه تمیر ملیان خرڅیږی دا ولی دے زمونږ

چا ویل خاوره ده اوس خاورو سره خاوره به شی
او لیار چرته خاورے کیږی دا ولی دے زمونږ

ترهغو کرم به ئے صفت زۀ په قلم د راخلے
ترڅو چه ساه راکښ غریږی دا ولی دے زمونږ

۲۳- مارچ ۲۰۰۶ء

پیښور د پریس کلب پښتو غونډا

د خان عبدالولی خان څلویښتی

# داولے؟

مقصد دا نه هیر شو ے د نیکو نو دَ پلرو نو
شملې ځکه شو ے ټیټې مونږ ه غم کړو د سرو نو

غیرت د ملاتړ مونږ کړو کمزوره په سرو لبا نو
قلم دا نه بندی شو د حرص په قلا کا نو

کړو خلی مونږ ه دوان د پښتنو د نام و ننګ
فکر ونه دا نه هیر شو د خوشحال میر ویس ملنګ

د المو دا نه هیر کړو خپل تهذیب او ثقافت
د خپله کړه ده غلا کړو د بل په شرارت

چه تل به ئې تږکید لو سره کله نه د الفت
په هغه خاوره کر کړو مونږ ه تخم د نفرت

خوشحاله سر دااو چت کړه تا ژړلو یو بهرام
نن هر بو دا مهابت ځے هر ز لے بهرام بهرام

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

د هر چنبتون په خله یوه قیصه او یو بیان
دوه دي زمونږ ده دین دوه دي مذهب دوه دي ایمان

میږے ساقي فدا عبدالمالک وو پاګلان
اجمل خټک عبث حېراني کړه خاورې په زندان

زمونږ د پلار ننګه په قربانو دے او رشي پوړے
چه خیټه مو خړ بیږي تل او ږو به ستغے سپوږے

زما په ځځه بے نومه دے تل دا سیمه یادیږي
چه زه خوب په بخمل کړم بل په زمکه ڈ لغړیږي

خیبر او هندوکش زمونږ اعمالو دشمنان کړل
دبل په مفاداتو خپل بچي مو یتیمان کړل

رو دو نه دی د وینو د تورخم نه تر هرات
صوفي ملا روان کړلو یو بل لښکر د سوات

روان دي قتلګاه ته د سوات سیمې ښاه زلمیان
ملا په ممبر وائي نه مري نه مري شهیدان

Scanned by CamScanner www.pukhto.net

جهاد ده ګټه ګټه په کښې نشته څۀ تاوان
شهيدان کۀ بچ نۀ شي تل يا دېږي به غازيان

ملا خو نه دے په نکه شه چېنترن دے کړو برباد
د روس او امريکې د جنګ نه جوړ دے کړو جهاد

داستا لاخنګه دين دے ملا ستا څنګه ايمان
د الله و انکاري کړے د قران او د ميزان

داځه چه دے کامل کوي داخو دسره درانيان
ديار په يو ادا قربانوي حور دے غلمان

جنوري ۲۰۰۵ء

۱۔ شاد محمد ميږے
۲۔ فضل رحيم ساقي
۳۔ صوفي محمد

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# زړه

سحر ما ښام لکه لېونئ زړه ښړیدم په ګلو
لکه د سین روان په مخه ووم پړاو مې نه وو
سپېره خزان به راته هم سمسور سپرلے ښکاریدو
ما به د غره په اوچو تیږو د کښې غانټول لیدل
تمامه شپه به مې سپوږمۍ سره خبرے کولے
ما به د ستورو په رڼا یار ته خطونه لیکل
د تور رانړئ د زړه راښکو نکے ترانو په طمعه
ما بے پیسے به د تیرو څوکیدارۍ کوله
د صبا ستوری چه به ذیړ شے د سحر داوړو
خیالی جانان به په خندا زما د څنګ پاڅیدو
هیرے تن او سه زما نه دی هغه شوخ سترګے
چه د سحر په رڼړا کانو کے طنزونه کول
هره صفحه کښی د کتاب به مې د ګل پاڼړے وے
په لاسو ښنیږ به مې لیکل د څپل جانان نومونه
تا سپړ دے شونډے د ګلو چه به نسیم ښکل کړے
لکه بوړا به ما د سوخته اسویلی اوکړل
نازک ګلونو د رامبیلو ته به زړه پسخیدم

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

تل مې نرګس سره په سرو سترګو ژړا کړې ده
څېرې ګريوان بنېږ ابلې بنېږ لېندۍ په لاس به لاړم
ما تل بنګړو چې به ما دګودر غاړې کښې
تل له غرمه به د جېندې په غاړه ما تېره کړه
د ځنګلي کېلې ګلونو دانه زړه او وړې وو
هر ماز يګر به د کاغذه ما کشتۍ جوړه کړه
د نا معلوم منزل په لوري به مې او بو کښې ورېنبوه
سکروي مابنام کښې په مستۍ چه به چرچڼې د اغلې
د بېرې او نه کښې ميله به د اختر جوړه شوه
مابه وې کاش ؟
مابه وې کاش چه زه انسانه وې چرچڼه پيدا
هر مابنام به مې اختر وو
هر سحر شو قدر
چه به شپرشم خادر کښې پټ کړلو د غمو پر تهي
زما په شونډو به نعره دېکه زاړه داغله
سو دي سودي به مې لاسونه په ازغو شولو
جالې به ما چه پر واړو کښې د کودر کوړو کښې
د ځنل خوږکي کلي بنا ئست به د ونې څخه وايمه
پېغلې ئې ځکه د حيا زلمي غيرت کښې غرونه
چه ديو نان عظيم فاتحې تماشې له راتلو
ځومره بنا ئسته به وي زموږ د برخند و ګلونه

ما وئیل زهٔ چه دا زلے شمه کو دد ته به حُکم
چه خپل خیالی جانان له د ننګ د حقیقت و دکرم
ما ته د تو د نصیب زړهٔ ستړی تقدیر څهٔ پته وه
چه په ځوانئ کښې به د زړهٔ په دغم اخته کړی ما
زهٔ هغه وخت به دا زغو په بسترو پروت یم
په کومو ورځو چه زلمی پړق د مستئ نه چیری
زهٔ هم بچی یے دا آدمؑ یمه انسان یادیږم
هغه انسان چه کائناتو کښې افضل پیدا دے
هغه انسان چه پرے خالق په عرش کښې فخر کوی
هغه انسان چه فرشتو ورته سجده کړے ده
زما په سر د فرشتو استاذ ابلیس یادیږی
زما په مرګ به د همه دنیا نظام ختم شی
والله زما هم په ګوګل کښې زړهٔ تو پونه جوړ کړی
چه خپل همزولی د مستئ په حال کښې اوو نیم
خالقه خیر دے په مرګی به دے ورک کړے ووم
خو دا خپل لاش به په اوږو د دے داته نهٔ بار کوو
زهٔ خو د دا اسے معاشرے سره تعلق لرم
چه بیماری به کښې پیغور غربت ذلت یادیږی
د لته کښې خلق د سودو په سر ننګو نهٔ کوی
او د پردیو تو په سر بنیے ابدی منزل ته رسی
د لته کښې خلق بے بنګالو ځئی د نهر په کوڅه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

په ورځ کښې شپږ ځله مارو ته دعوتونه کوي
د الله عزت خلق ګڼړي د خان کنځل خالقه
خندا کوي د غریبانو د عالمانو پسې دے
اوس خو زمونږ ناداري ده هم کړې جدا نور دارو
چه په مرګي هم فاصلے تر منځه ختمے نۀ شي ـ
ستا د مرګي نه نۀ ویریږم د ژوند بنۀ پته ده
دا ستر غلي مې پړ شیدلے د نیستۍ په زهرو
چه د زر دارو بیمارۍ دے دا ته برخه دا کړه
اوس خو وس دا کړه چه علاج د زخونو زړۀ او کړه
زما بچو ته خو سکړک کوکۍ زخمي زخمي کړے
چرته نۀ داورم د جهازونو کرایه د ډاکټرانو فیس
چه زۀ بے دمه په کټ پروت ووم او بچو مې ژړل
ماویل اوس به زمکه او شلیږي قیامت به راشي
ته ول کائنات په خپل مدار کښې چلیدل خالقه
لکه مړ دا ره په دا بنکو چه زۀ د کور پهر کړم
وي تر قیامت به دا ته یاده هغه تو ده شپه
مرګ دا ته غلے په مرۍ وو زۀ جمات کښې پروت ووم
په سینه به یې مې بابا پړ دی ورونه د بول
دا یا سۍ خلقه تماشه د بے وسۍ مې او کړئ
زلے بچي مې د مرګ خله کښې په جمات پروت دے
څو مړۀ مجبور دیم هسپتال ته ځے بو تلے نۀ شمه
د لیونو په شانتے مندرے مې بابا وهلے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

لکه د کونډو ئې په واڼکو کې ژړا کوله
پلار مې د مرګ نه زه پټېدم د ژوندون په غېږه
ما ته مرګې په هغه شپه د ژوندون غور ښکاره شو
چه بې وسئ ته مې د پلار کتل سوالونه مې کول
خدایه مرګ دا کړه چه زړۀ صبر د بابا شي زما
په خپلو سترګو مې په هغه شپه مرګ لیدلے
هغه مرګ چه ویښتهٔ زیګ کړي د انسان په وجود
هغه مرګ چه مسلمان ته ئې کعبه یاده کړه
هغه مرګ چه ئې کافر کړو د بتانو غلام
هغه مرګ چه ګل غوندې انسانان خاورې کړي
رشته ئې ختمه د وجود کړي د ژوندو سره
هغه مرګ دے ما لیدلے په ډېرې خپلو سترګو
دې وسئ د ژوندون مرګ دې په زړګونو بهتر
چه پېغله خور دې په زلمو کښې وي سر تور ولاړه
او بوډۀ ځئ مور دے په سر خاورې نړلې چغې وهي
چه ناوې ښځه دے منت زاری کوي د خلقو
او غېرتي ورور دے کندي کښې سوال کوي علاج له
چه په اخبار اشتهار د اشې خلقه ما بچ کړئ
خالق ګېر کړے یم امداد مې د خلاصې او کړئ
ذنه تړلے د زکوٰۃ په دفترونو ګرځئ
د خیراتي دادو پښتئ بردي په زخمونو باندې

وارہ ئې چې دے په سلګو کښې خپل بابا یاد وی
او د بابا شو ندے ګنډلی څۀ ویلے نۀ شی
چه په ژوندون دګور کفن سامان دے کورته راشی
غوږ و نه بوس خلق نیولے وی دمرګ اواز ته
دګور په خلقو باندے بوج شے درنه مخ واړ وی
مجبور په خلۀ کښې دے بنډ ږی ته لاچار پروت ئے
کۀ دا ژوندون وی نو زما ورته سلام دے ربه
ما د دآنی لۀ مرګه د اچه په سکون شمه
مګر فریب دے دنګینئ دکائنات تو دی
په هغه سین څۀ چه په غاړه ئے زۀ تږے ناست یم
دا د نرګس لاله دنګونه زما سترګو کښې دی
ټول به بے رنګ شی چه زما دسترګو رنګ ختم شی

۱۳- ستمبر ۱۹۹۶ء

ایل۔آر۔ایچ هسپتال پیښور

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# شعرونه

(۱)

زهٔ د جانان عشق کښې ستي په سور انګار یمه
اے د دوزخ اوره ستا لمبې په ما اثر نهٔ کړي

(۲)

یار مې خفه شوې په منار مې ئې ګیله او کړه
ستا وه جنازه ما ښي جنج بے تماشے راغے

(۳)

مینه کړې رقیب سره په دے د یار خفه نهٔ یم
ژاړمه په دے چه ما قابل د نفرت نهٔ ګڼړي

(۴)

ما چه ئې په مینه کښې همه خدائی دشمنه کړه
نن ئې دا ته اووے زهٔ بدنامه ستا خبرو کړم

(۵)

ځوانی خو یو پړه دا ده د یار خمارو سترګو
اوس انتظار کښې د مرګ زهٔ ورځے شپے تیروم

(۶)

نن په شرابي سترګو چه یار دوکه کښې او کتل
تش کوګل شوم پاتے زړهٔ مې یوړو د خپل ځان سره

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۷)

نهٔ مې لوئې عمر پکار دے ، امیدوار نهٔ د جنت یم
ماله غېږه د جانان او صرف دوه سلګۍ ژوندون دا

(۸)

زهٔ خوشحال دو زخ کښې چه په جار دیدن د یار کوم
ستا جنت نصیب شه ملا جانه یار د حورو ئے

(۹)

ټول عمر مې ستا د کوڅے خاورے دی بنګل کړی
تهٔ مې مزار بنګل کړه چه لحد کښې په سکون شم

(۱۰)

زهٔ د جانان مینه په بدل کښې د جنت اخلم
خدائے مې راضی کړے خو جانان نهٔ راضی کیږی

(۱۱)

ټول عالم خوشحاله شی اختر دے ځئ کو دونو ته
ما دو ژه نیولے ستا کوڅه کښې اختر د لته کوم

(۱۲)

ما چه ئے په مینه کښې جنت په ځان حرام کړو
نن ئے جواب راکړو بیا چه دے کوڅے ته را نهٔ شی

(۱۳)

یار خو مخ کړی پټ چه کله ما لاره کښې اووینی
زهٔ ئے د کوڅو خاورے په خپلو سترګو بنګل کړم

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۱۴)

شپه کښې ورته اوژاړه که عشق کښې صادقه ئې
ورځ خو ماشومان هم د جماعت په غېږه تېره کړې

(۱۵)

ماته پیمانه ساقي د یار د شونډو جوړه کړه
ستا به شي شراب بچت زه هسې به نشه شمه

(۱۶)

شي جنت واجب په چه پیدا شي دَ پښتون کره
هر قام کښې به د ینه شته دیندار تول پښتانهٔ دي

(۱۷)

زهٔ وایم په جار اول پښتون بیا مسلمان یم
اوګوره تاریخ مِ ملا جانه بیا کافر مِ کړه

(۱۸)

سر چه ټیټ وي نو د شانو ګوټ زو قوم شي
د غیرت دا اوچت سکړک د چړکه خوږ دے

(۱۹)

چه کوم قام ته دولت راشي غیرت اوځي
پښتانهٔ وو تر دیالي چه غریبان وو

(۲۰)

غیرت اولي په بېلئ دولت راغونډ کړې
د نن ټونډو بوئ پښتون قام لیونی کړو

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۲۱)

څو مره ښکه نن بې حجابه د جانان د یدن وو
د خدائې د پاره بیا چه ما ته بې پر دې د انه شې

(۲۲)

د جانان جفا نفرت نه دے ورکړم په سرو ګلونو
زما نوم په شو نډو وا خلی د نفرت او د غصې نه

(۲۳)

خدایه ګناهګار یم د جانان په پرستش نه کړے
لا یم ایمان پوخ شی چه ذه د ے حسن ته او ګورم

(۲۴)

جانان یم دا ته وائی چه جان دې دا ته او ښایه
زه به ئے کړم رضا در ته چه ستا خبره نه منی

(۲۵)

څوک چه شی ستی په دے دنیا د عشق او رکښی
هغه خلق او په بښتئ دوزخ د لوبو ځائے ګنړی

(۲۶)

کړے یم انکار په هغه ورځ د جنت حورو نه
کله چه د یار لاس نه ما په مینه بنګل کړل

(۲۷)

حورے د جنت دے ستا نصیب شی ملا جانه
ما ته دعا او کړه چه د مینے لاس جانان را کړی

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۲۸)

لرے کړه تسبیح دے ملا جانه دیا کار بنکار دے
پټ ئے صفت اوکړه چه جانان درنه خوشحاله شی

(۲۹)

لا ما بنا مے نهٔ دے میخانه دے ساقی بنده کړه
داتیارهٔ چه ویښه یار م زلفے خورے کړے دی

(۳۰)

درانیه! چه احمد ویښ کړے نهٔ دے
هغه قام به ستا په چغو څهٔ بیدار شی

(۳۱)

ما ته د شرابو صفت بیا ساقی چه او نهٔ کړے
هغه اورے مړ نهٔ کړو چه کوم جانان بل کړے دے

(۳۲)

ستا لوېته به په بنا کښت دکوه قاف ورنهٔ کړم
پښتنې پیغلے ستا غیرت او ستا عظمت ته سلام

(۳۳)

تا به مستر شو ندو کښی بیګاه چه ما ته کوټ راکړو
کوم شراب دے څکلې میخانه را ته حیرانه وه

(۳۴)

ستا عشق بے نیازه د دنیا د کل عالم کړمه
نهٔ را ته ورځ یاده نهٔ د شپې را ته احساس کیږی

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۳۵)

ما ته د رقیب په خوله بدا نه ده خبر مه کړه
ته یې کړه بیا عوض نه ده خوشحال ستا په کنځلو

(۳۶)

ته چه یې نشه د مستۍ او لیده په شوق شو وکښ
پیدا میخانه کړه ساقي تول شراب یې واړه ول

(۳۷)

تا ته دې شراب او ما ته ترېخ داروګوټ دے
ویر پرے ځان دو که کړم خو نشه پرے چرته نه شوم

(۳۸)

دا نشه عالمه د شراب کها ته کښي لیک نه کړې
ځکه یم بې هوده، چه جانان دا ته خندلے دی

(۳۹)

ستا شرابي شو ندرو کړه بنګلا د میخانه ختمه
لږ مې دا بهر کړه تول میخوار دې انتظار کښي دی

(۴۰)

د دې آخرے حساب کتاب د بنه په پټه اوکړه
د بې پرده دار به بې پرده شي په میدان د محشر

(۴۱)

ځکه بې عمله شوه کلمه مونځ په جهان
خلق جنل مطلبي شو لالچ له سجدے کوی

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

(۴۲)

تا به خپله وو مه که جهان مې تول دښمن شي
کړے مې قسم د پښتنې مور په شو دو دے

(۴۳)

ستا د حسن د وران تیر شه چه دنیا د رنړه شي ستړنه
ما ته هسې هم ملنګ ښکارے ځے ازغي که اوچ خاښه نه

(۴۴)

دلته شوے زور ور هلته ناست منصف الله دے
ځه به د نفرت بدل کښې هلته مینه غواړم

(۴۵)

خه ګټه دے او کړه د ښمنو کښې اے پښتونه
خپله وے تلاش د بابا کور دے هم لکا نړه شو

(۴۶)

ما ته دے معلوم دے غیرت خاوریت دے ښکته کړه
تیر کال دے خلود ژلي وژلي به دیر دي

(۴۷)

بندے کړه بنیرے د جنازے اعلان ته غوږ شه
دوه ورځے ژوندون مې دے اخته د زړه په رنځ یم

(۴۸)

ځه او د کښې بلد یم جهنمه خوشحالیږمه !!
ژړ کاله د دوزخ نه یوه شپه د هجر سخته وي

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۴۹)

د امرداړ وجود به جهنم د الله صفا کړی
ذ نګ چه کله کمک شی بے داوړه نهٔ پاکیږی

(۵۰)

اور د عشق سخت وی چه واحد عاشق ایره کړی
تاکیږي حق دوزخه به لګما خلق ملګری وی

(۵۱)

نن دے خلهٔ خطا شوه بیا پیغور د وفا او نهٔ کړے
ے غریب سړے چه وفا نهٔ کړے نن ر به خهٔ کوے

(۵۲)

نن دے خلهٔ خطا شوه بیا پیغور د وفا او نهٔ کړے
ختم د غه باب دے نن ے وخت د شلتالو دے

(۵۳)

خومره قدر د ان شو ښتون قام د ښتنې ژبې
جوړه کړی جګړه به د یران وائی ښتو کتهم

(۵۴)

وو چه لا بے دینه وے خوبۍ د مسلمان به کېږی
ځکه به شریکه ښتنو دے ایمان د اوړے

(۵۵)

خدائے شراب حرام کړهٔ چه بنده د خوده او باسی
نهٔ شته [illegible] هوده چه د یار حسن ته اوګورے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

(۵۶)

څوک کړی د ځان په غم ژړا څوک د جانان په غم
ما د ر آخره دی تل ژړلے د جهان په غم

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# خان عبدالغني خان ته د عقیدت پېرزوینې

## چه غنيّ نشته دے

خوره سپېره شو مابنامونه چه غنيّ نشته دے
خوره پیکه شو محفلونه چه غنيّ نشته دے

بلبل وے گل ته بے معنیٰ شوه فلسفه د مینې
بند کړه د عشق کتابونه چه غني نشته دے

دا به لولئ خووه سایه د لیونی فلسفی
بورا دے بنکل کړي سرهٔ گلونه چه غني نشته دے

ژاړی جیندے خروله هم سرونه ټیټ نیولی
په مونږ به خوږ لیکی شعرونه چه غني نشته دے

دا به پیاله کښې د غني د شونډو خوندوو ساقی
ترخ او به شوے شرابونه چه غني نشته دے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ملا وے خان غني دڅ وند په فلسفه خبر وو
اوس په مونږ څوک کړي تنقيدونه چه غني نشته دے

داځه چه غاړے سره ودکړو ورورولي ښکاره کړو
چا ته معلوم دي پټ رازونه چه غني نشته دے

د رب ديدار چه به ئے تل د ګل په پاڼو کړو
څوک ګوري دومره نظرونه چه غني نشته دے

پرون چه وے مستي بے هوده کړو کافر شو غني
نن هغه خلق کړي ويرونه چه غني نشته دے

مرګيه داشه د غني په ډيرۍ نن اوګوره
داغورځنګ شو څومره عالمونه چه غني نشته دے

په رب قسم دے ملاجانه چه دے خوب حرام کړم
زهٔ به دے نيسم خوب رګونه چه غني نشته دے

د ليوني په ليونئ فلسفه څهٔ اوليکم
د ښتيائے شو تمول تحريرونه چه غني نشته دے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

د دار په خوا چه ئې ولاړ وو تماشې ته خاموش
نن ئې په قبر کړې عرس وو نه چه غني ننشته دے

اے ضمير خرڅو اے د مړو قدر دانه قامه
په ژوندئې چا کړو تپوس وو نه چه غني ننشته دے

ټول په محشر به يو سر تېښتي د غنيؔ په وړاندے
کهٔ ئې درانهٔ کړو ډير نکړو نه چه غني ننشته دے

ژوندئې تمام شړلو پولو کښې د ازغو درآنے
نن وړته جوړ شو محلونه چه غني ننشته دے

غني ډير ئې رحکړ
دَ خان عبد الغني خان کلسيزه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# ناوے په پیسه

چه ښکلی حسن نیلامیږی د دنیا ورانه بنۀ ده
چه ورور د ورور ولی په پیسو کیږی د دنیا ورانه بنۀ ده

په مال دولت سوداګر اخلی د ښاپیرۍ ښاپیرۍ
چه سر د غرت ښکلی ډیرږی د دنیا ورانه بنۀ ده

ښځوا چه یاد په پت غیرت بښیږی ننګ او وفا
لور د پنجاب کلی د خرڅیږی د دنیا ورانه بنۀ ده

پرون په ناوے د کمخواب جوړه کلی سحر کره تله
په سپین کفن نن سینګاریږی د دنیا ورانه بنۀ ده

الله چه حسن دے پیدا کړو نو دولت دے نۀ وے
دلته خو مینه کنډه کیږی د دنیا ورانه بنۀ ده

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ځواڅېړان وو مشهور د جینکو په خرڅ کېږي
نن په هوکور کېږي بولۍ کېږي دنیا وړانه بنده ده

د هشنغر پښتنې جوړ نه نور ے تنکے ندۍ کړ ے
پښتو بغاوت ترینه جوړ یږي دنیا وړانه بنده ده

درانخې بس قلم د ے مات کړې نور لیکل منۀ کړه
د اضمیر خرڅي ندۍ بد لیږي دنیا وړانه بنده ده

۱۱ ، مارچ ۱۹۸۹ء

چارسده کالج

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# کابل دګلونو او رنګونو ښار

نۀ دے غیرت او نۀ دے مینه ستایم
اے د خلوص دګو جذبو وطنه

نۀ دے میوے او نۀ باغونه ستایم
د سرو ګلونو او سپرلو وطنه

نۀ دے ښکلې او لوړ غرونه ستایم
اے د سیندونو او ولو وطنه

نۀ دے بناسُت او نۀ رنګونه ستایم
اے د پښتو او ذلمو وطنه

نۀ ذما خونه د ابا و اجداد ئے
دَ قام پرسته لیونو وطنه

ما به اغیار ستا په وفا یرول
اے د خالدؔ د ولولو وطنه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

صرف ستا نوم وو د نړۍ په نقشه
اے د پښتونو پیژندګلو وطنه

اغیار زما خوند لیدے شوه کله
سودے سودے کړے په ګولو وطنه

اوس خو یتیم او غلام تا جوړ وی
ستا بچی خرڅ شو په پیسو وطنه

چه ئے پلو اغیار لیدلے نهٔ وو
وخت کړو زینت نن د چکلو وطنه

زما عزت خپلو بچو نیلام کړو
څهٔ ګیله او کړم د پردو وطنه

نوره چرته خیبر ته مهٔ غوړوه
تورل شاه زلمی شو بے پښتو وطنه

د وینو دارے رم په مخ پرتے دی
ورور دی ورور وژنی په پیسو وطنه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

زما شوه کور مه لاره چې ته لاړ شم
د ابدالي يا د درانيو وطنه

جنوري ۱۹۸۸ ء

کابل افغانستان

Scanned by CamScanner www.pukhto.net

# ثوخبرے

ځو خبر و م پہ ذرۂ جوړ کړو غبار
کوشش کړم چہ ئے بیان کړم پہ اشعار

پہ لیدو م دا سے اوو پہ وجود بل شی
لکہ غو بنہ خوک رو تہ کړی پہ انکار

اول دا چہ پہ نعلت کړی ځان سپین بږیرے
مړ نږ لاس کښی کر ځوی پہ کلی او ښار

یا چہ دوو پہ هجرا دځوانئ تیر شی
پہ تسبو باندے شروع کړی استغفار

یا چہ ناست وی افغانے پہ سینما کښی
سترگے وکے دشهوت پہ خلۂ اذکار

یا چہ خپلہ لور وادۂ کړی پنجابی تہ
پہ پیسو دلہ شروع کړی کاروبار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

یا بیرته چه ستر کے توری پہ دښمن کړی
نا یا لغه جینئ او سکونډری پہ لار

یا پہ پیړ د جوارئ چه کورمکانره کړی
خادر او ځنډری د ایاسی پہ تلوار

یا چه مکیچ ته د ښځې پہ کور کښیني
پہ دا تلو کے د بنیو لری کړی پیږ ار

یا بنادی چه کسب کړو کړه داشی
ویښته کټ کړی دوزے او باسر پہ تار

یا چه کوندره مان یکر کښ ځا سینګار کړی
پہ تکل د شهوت پوره کړی مسکار

یا چه زوم د سخر پہ کور باندے دیره شی
کئ هر وخت تر نګه وی سپئ د لوهار

یا ندره ستر ے پہ دارو چه د طبیب شی
مجبوره شی نیک عمله خوک بیمار


www.pukhto.net

یا گنج چه خزانه ځان ته سپتوکے کړی
په زور جمع جوړ سپاهی شی حوالدار

یا پیتوار چه د نیکئ بیان شروع کړی
دشوت نهٔ اخلم د قام یم خدمتګار

یا دوپیئ چه تنازعه شی په ټیکسی کښې
سوډلئ پاځی کنډیکټر پسے په قار

یا نشه چه دپوډرو څوک شروع کړی
په کوڅو کښې شی د چرګو څوکیدار

یا چه بنځه شی قادرونې په دولت کښې
خاوند ګرځی په کوڅو کښې خوار و زار

یا په سر چه تاج ملا ته د انصاف کړی
د سپین دوړو پړے عزت کړی تار په تار

یا ټوپک چه په اوږه د بل په شش کړی
بے عزتی م د خان کړے ده اغیار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

یا چه ورور د رته په مینه کښې رقیب شی
په کباب کښې جوړ هډوکے شی په جار

یا چه پیاز د صحبت مخکښې ښځه اوخوري
درته و اخلی شوندے خوره پریږدی رخسار

یا جرګې کښې چه د بل په کور میلمه شی
کباب چرګ سره په طمعه د اچار

یا غریب چه تړله ورځ مزدوري اوګرځی
شپے له راوړی خپل بیټهک له وی۔سی۔آر

یا مریض چه هسپتال کښې دوته پروت وی
دډوډۍ په وخت راغونډ شی تیماردار

یا دلور نکاح په دے لالچ او نهٔ کړی
په جائیداد کښې مې زیاتیږی حصه دار

یا ډاکټر چه د کمپنۍ سره ټیکه شی
هر مریض ته دداسو ټری انبار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

یا استاذ چه بچه بازوی مدرسه کښې
هره ورځ په رباب نوے ترې تار

یا بابو چه ځان مشغول کړی په فائیلونو
چانکی ته د سائل په انتظار

یا تانړه کښې محرر چه درته وائی
زر دو پئ کاغذ ته راداینائ آر

یا خلوت کښې نابالغ چه د چا سره شی
شی خالق ته په توبو او استغفار

یا موسند چه د بنارې پېښې شروع کړی
نېږه کله کړی قوله چرته ګذار

یا یتیم چه مور نه پاتے شی په کورکښې
د بچونو رته کم ګوری ورنداد

یا څه کېنی په بازار کښې څوک فال ګرته
شرک کوی ویره ئې نه وی د قهار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

یا باور چه د غلیم په سوګند او کړي
ځنې رقیب سره شروع کړي کاروبار

یا چه او کړي ایا دي څوک نوے کور د کینې
کړي زوړ نده ئے سپیا که په رخسار

یا دو که چه څوک د بنګلو په خندا شي
په نظر ئے د ګل ترخ کښي نۀ شي خار

نو!

دومره ذړۀ په دے خبرو م خفه شي
ځکه سوز کښي چه د باب او شلوي تار

یا ما بنام کښي میخانه ساقي کړي بنده
انتظار کښي ورته ناست وي تول میخوار

یا لو لګي چه د سپرلي دوران کښي مړے شي
او بوړا اجوړ شي د سرو ګلو سردار

یا چه ستر ګے د دیدن مخکښي ړندے شي
مینه ځۀ چې دَ نفرت نۀ وي اثار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

یا سپوږمۍ د خوار لیسې جانانه
یا د ژمي شپه سحر شي بې خمار

یا چه ستوري د سبا ورېځه پټ کړي
یا خاموش کړي تورانۍ د شپې په ناړ

یا نسیم چه د سحره شي ناراضه
یا چه غوږ کړي د کوکۍ لا سر نه خار

د رآخر عبث لیکل دې شروع کړې
پښتانه به د چا ښځه کړي په لار

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# د ډاکټر کبیر ستوري ته د عقیدت پېرزوینې

## کبیره

پناه د سترګو شو په زړونو کښې اوسېږې کبیره
خدائیګو چې نن هم راته وړاندې وړاندې کېږې کبیره

چرته چې ذکر د افغان د لوئې تمبر شروع شي
هغه محفل کښې د سبا ستوري ځلیږې کبیره

د لر او بر پښتنو خدائې د پاره یو شئ سره
په توره کړ بنه د دیو د نه زمونږ بیلیږې کبیره

د یو بابا بچي د او لیښئ شئ دښمن او پېژنئ
عزت نیادم شو د ملالو خفه کیږې کبیره

اجل نه مري خدائیګو نه مري د قلم خاوندان
شرط پړے تړمه تر قیامته یادیږې کبیره

تل ئے ستائیلے په قلم ستا پت غیرت خیبره
په بے ننګئ د دے زلمو ځکه دړدیږې کبیره

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

د وخت یزیده په والله که ئې سر ټیټ شي درته
پښتون نه لږے دے دومره کي کله ویریږی کبیره

د ایمل خان او د دریا خان بچی لږ ننګ پرے اوکړئ
په شته وطن کښې د اغیار په کور اوسیږی کبیره

او دونه مړه کړئ د نفاق اے د یوے مور بچو
سپرغنئ کے بنکاری اسویلو کښې لمبه کیږی کبیره

راځئ چه یو کړو افریدی مومند خټک او وزیر
دیر سفی و او محمدزو په نوم نیازیږی کبیره

ماحول سکئ سکئ دے ټوله پښتونخوا غمژنه
خړه او د یخ شوه د سبا ستر ے پټیږی کبیره

شریک بچی وو د خیبر او هندوکش مللکو
د ستر خوشحال میرویس احمد وارث یادیږی کبیره

غانټول لالا او د مېرګل ورته په قبر کړکړئ
د کشمالی لونګه په کلو خوشحالیږی کبیره

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

د درانيِ ماخو لا فريد هو تک صادق ژړله
گمان مې نهٔ وو چه زمونږ به جدا کيږي کيږي

۱۳- اپريل ۲۰۰۷ء

پېښور د پرديس کلب پښتون خوا

## يادګيرنه :

دَ هٔ اکثر کيږي ستورې په رومبئ
کليزه کښې واوره ولے شو ـ

(درانی)

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# تظمینے

با حیاء پیغله زما پیغور تهمت دے
په کمب کښې کډه لوړ دخان عزت دے

زما د پیغلې پانزیب بے حیائي خوره وې
دخان د لور ګنګرو کان خونقافت دے

په زر جیړبه خرڅه درنه دخان لور وې
زما د پیغلې مهر د سر قیمت دے

د دنیا کښې ویش دے ربه ملا نه واخله
ما ته زحمت ذحمت خان ته رحمت دے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

زما د مړی په ودځ ملیان فارغه نهٔ وی
دحورو ویش نن شروع دخان میت دے

دخان ګډان سخا زما سکرک اسراف
داډملا وینا دا نصیحت دے

دا څهٔ ملاچه وائی ربهٔ کهٔ دا رښتیا وی
جوړ دړآنی له دوزخ خان له جنت دے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# مزدور

نور د فوقیت د ناکړدو د لاسه تنګ شومه
ځکه شوم باغی د خپل نصیب سره په جنګ شومه

هر محل کښې جوړ زما په وینو چراغان دے
خپله د دنړا په طمعه اوسومه پتنګ شومه

# لنډیزه

عشق دا ته اور شو غریبي راته پیغور شوله
دا د زړه دارانو دنیا ما ته سکه کور شوله

نه یم خوګ انسان د آخرې نه یم مسلمان ګڼړی
ختمې د وفا خبرے اوس یاری دشکور شوله

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# قام پرسته

چه دشمن شي په کښې زوے د خپلې مور
چه ګوډيوان کړي په کښې سيړےورور د ورور

چه اصول د باچا خان په کښې نيلام شي
شي غالب په قاميت د زړو زور

چه قامي مسئلې پاتے په ميدان شي
شي په او ودځ ورسره غم وي د خپل کور

دن آخے که قام پرست د غمې ته واي
بل په داسې قام پرستو دعشي اور

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# پلوشه

د زړه آخې د ژ لفظونو نه چیرې تار
هسې ځان به کړې ذلیله په تیر وار

هر سپړلی کښې نوې نوې کلۍ خوند کړي
مړاوې ګل شو د لمولۍ کښې سینه قلار

# پلوشه

د زړه د زخمونو پړې لیکلې نه شي
د یار یادونه پړې لیکلې نه شي

په لا شعور کښې چه پټ کوم تصویر دې
هغه لفظونو پرې لیکلې نه شي

د زړه آخې وړکه دې شي ستا شاعري
یار ته خطونه پړې لیکلې نه شي

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# دستار انټرنیشنل مُجلّه

کۀ قلم دانه بندي ډېر مې پېږې شوه
فکر چا دے ایسار کړے په حصار

د خوشحال میروس ایمل ارمان پوره شو
د خیبر په سر جنډه شوله دستار

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# پلوشه

دا ځئ چه اوکړو اتفاق ملګرو
دستر بابا په اشتیاق ملګرو

د لر او بر پښتانه يو کړو سره
ذره ذره کړلو نفاق ملګرو

# خبرے

چه دا په ياد شی ستا ترخے خبرے
بيا دا نه نه کيږی خوږے خبرے

زړه مې دا ډک شی غريب نيولے کينم
په اوښکو ليک کړمه زړے خبرے

---

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

د دستار انټرنشنل ایډیټر صابر شاه صابرؔ ته

# دَ خط جواب

باچا قربان ستا د همت نه قربان
ستا د دے فن ستا د حکمت نه قربان

ستا د دے فکر د الوت نه قربان
قربان قربان ستا د غیرت نه قربان

عمر د دے کم خو پرهه زیاته باچا
دا احساس او شور او س ماته باچا

واللّٰه چه خومره کړیدلے ئے ته
واللّٰه چه خومره دردیدلے ئے ته

اور دَ احساس کښې سوزیدلے ئے ته
دا خومره پټ پټ ژړیدلے ئے ته

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

نهٔ د مستئ نهٔ د خوانئ خبر شوے
نهٔ د خمار نهٔ د خانئ خبر شوے

باچا په یو خبره دیر حیران یم
حیرانه څه چه په والله پریشان یم

ستا د اقلم شو نه ے زلفان نهٔ وینی
بنا دسته رخسار او سرهٔ لبان نهٔ وینی

چرته نتکئ بنګړی پیزوان نهٔ وینی
تورو کمخو کښی سرهٔ ګلان نهٔ وینی

د زړګے حورے او غلمان نهٔ وینی
دا بنګلی مست مست هلکان نهٔ وینی

سمسور سپرلی کښی سرهٔ ګلان نهٔ وینی
دبر د ګی تال پاس په اسمان نهٔ وینی

دا کوم تعویذ دے په قلم کړے دے
د کوم ملا نه دے پرے دم کړے دے

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

چه مړسته تل د غریبانو کړی
ړومبی او از د منډوډانو کړی

هر ځائې فریاد د مظلومانو کړی
غندنه تل د زرداړانو کړی

پښتون په قطره کړه کابل کښې اوسي
ستا د قلم څڼرے او ربل کښې اوسی

کوے جذبه کړے د ځوانئ بے زاره
کړم یې احساس کړے د خانئ بے زاره

ژوندے تمام شو دا ژغور په بسته
هر وخت دوان د بل په غم کښې اوتر

زهٔ کاکه پښتون د هشنغر یم باچا
نهٔ په دولت نهٔ په دوتر یم باچا

خدائیګو د هر څهٔ نه خبر یم باچا
زهٔ د الفاظو جادوګر یم باچا

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

چه په نامه باندې خیبر یادیږی
لیکوال یې د دغه غر یم باچا

چه غریبان به د تا تیکي نه خلاص کړې
د هغه تو دے شپې سحر یم باچا

ذره کښې حرص نه د عهدو لرمه
خدائیګو هوس نه د کرسو لرمه

نه ما کرسئ عهده غیرت دے باچا
ویر دا ته غوره چپل غربت دے باچا

مونږه تاله ته نه تندو ته ګورو
مونږه دولت ته نه پښتو ته ګورو

د اخلاص کر بنے ستا تندی کښې ښکاری
ځان دا ته غوره ستا کندی کښې ښکاری

خه پیښور خه هشنغر باچا
یم د سیند غاړه یل ګودر باچا

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

باچا اباد دے وی تل ستا یاران
فیروز گلزار مکرم خان جانان

د جهانزیب په خط کښې نکړم بیان
هغه زما او ستا شریک بابا جان

د ګران په زوی زرګ دعا سلام
باچا بیا ورکړه دا ن ما پیغام

ګران به تر هغو وی ژوندے په جهان
ترڅو چه اوسی په نړۍ شاعران

باچا د خط نه م جوړیږی دیوان
اجازت راکړه د الله په امان

تل په دعا کښې یاد ساته شبیر جانه
صابره دا به دے په ما وی احسان

۱۱ ، اپریل ۲۰۰۶ء

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# سخر

سخر چه پاتې تر پخکو ته د اینګور شي
بوره توب ورته عذاب پر غټو پېغور شي

غر مېنې سکرک به خوړې سم د ما پنامه
خیر که شپه کېنې دې دختې حالات نور شي

که خبره د لقمان په قول بیان کړي
هر محفل نه پکه سپې بهر په زور شي

درانیټه ! خوش قسمت هغه انسان دې
ځنکدن چه ئې په غیر د خپلې مور شي

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# پلوشه

دجانان د جفا ښکار به یم تر کومه
په توبه او په زار زار به یم تر کومه

په رسو د تورو زلفو بندیوان یم
د منصور غوندې په دار به یم تر کومه

درآخې د بغاوت چغه کړه پورته
په غربت زه سزاوار به یم تر کومه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# یوه حادثه بانذے

اے یزیده اے شمره خو نه پوهه دے د پلار شه
چه زما جنت دے وران کړو خپل بچي دے خوار وزار شه

انسانانه چه چرګوړے هم په والله نه شم وژلے
چه دے ذه خنګه په دار کړم ستا نیازبین داسے په دار شه

ماخو تل خوشحالۍ کړے داولس په خوشحالی دی
اے دبل په غم خوشحاله په کاله دے دغم لار شه

خپل ضمیر مِ مطمئن دے په خندا به دار نه خېژم
دا دنیا دار العمل دے بس کړه بس کړه توبه ګار شه

دا رتې لوټکے دنیا ده یو تشیږی بل ډکیږی
دَ خپل قبر فکر اوکړه دچا خوار غریب به کار شه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

تا خو تل دَ بل په وينو خپل لاسونه دى سرهٔ کړى
خپل وجود د رته ستړشه خپلې غوښې ئې انګار شه

اے دهرے ساه واګداره پټ رازونه درڅرګند دى
درآنى کهٔ بے ګناه وى تهٔ ئے مل تهٔ مدد ګار شه

١٣ ـ مئى ٢٠٠٧ء

سخاکوټ ملاکنډ ایجنسی

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# یوویشتمه صدی

بس کړه د درانتیه د کمځو خبرې مه کوه
مانه د پازیبو او بنګړو خبرې مه کوه

نوې زمانه ده صفتونه د شرابو دي
پرېږده د ګودر کنډول منګو خبرې مه کوه

تل ځان سېزلې د غیرت په دوزخونو دې
مونږ ته د نیکونو د پلرو خبرې مه کوه

غواړې که شهرت نو په قلم دې مغرب اوستایه
بلې په مشرق د سرو لمبو خبرې مه کوه

او لیکه شعرونه په ښکلا کې پیرس لندن یاندې
مونږ ته د بې وسو د سلګو خبرې مه کوه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ماپېنتو اچولے د پر توکی نه انکاری یمه
ما ته د شالونو لو پېتو خبرے مهٔ کوه

زهٔ لور د ملاځي نه مختیاره او مونیکا یم
ما ته د رانی د پټ پښتنو خبرے مهٔ کوه

---

۱۔ مختیاره مائ
۲۔ مونیکا د امر یکې د پخوانی صدر
بل کلنټن محبوبه

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

# وخت

په مېنت او زارئ کله واپس کېږي
تېره ورځ د ژوندانه په دے جهان

که ته خاندے او که ژاړے وخت تېرېږي
دے ته نه ګوري چه ستړے دے انسان

خوشحالئ کښې مرګ مېلمه خندا ژړا کړي
زړۀ ئے نشته په چا نۀ لري خفګان

ماشوم ځوان او ځوان بوډا حسن تالا کړي
کړي د خاورو سره خاورے بادشاهان

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

ډیرې پېغلې د ډولۍ په ارمان مړې کړې
څه کړې کوندې ورته پاتې ماشومان

نن غوټۍ وې سبا ګل دوران ئې تېر کړې
د سپرلي ګلونه وژني په خزان

بې قدري د وخت او نه کړې د دانیه
په تالا میدان به بیا کوي ارمان


Scanned by CamScanner

# عراق

دا بے اسرے چه د عراق جونے ویرونه کوی
دا بے قصوره امریکه چه پرے ظلمونه کوی

دا په روضه چه د حسینؓ نن بمبارئ کیږی
د علیؓ پخ ته د سیزلو تیاریٔ کیږی

دا ماشومان چه سرګردان ګرځی د شتونو کښی
علی اکبرؓ علی اصغرؓ سوزی اورونو کښی

دا جماتونه چه سوری شو په ګولو باندے
دا چه بمونه داورېږی په جولو باندے

دا په روضه چه د عباسؓ پراته داغونه وینے
داد عراق د بے وسیٔ ژوندی عکسونه وینے

دا بوډاګان چه شته کورونو کښی بهر ګرځی
دا شاه زلمیان چه دربه در خاورے په سر ګرځی

Scanned by CamScanner
www.pukhto.net

دا په عراق چه د نیو کلیسا اوس نه دی
داوی بچې د شیطان تیلو ته دا مو نه دی

داچه سو رئ سو دئ رو ضه ئې دا امام کړه
شمله ئې بنکته د سرا خپ د کل اسلام کړه

دا کړمه ویره ده خاموش چه مسلمان پاتے شو
کابل کښې ځان وژنی عراق خالی میدان پاتے شو

دا شئ پرواز د کربلا په دے د شتونو اوکړی
نو ے لیکل په زور تاریخ د خپلو وینو اوکړی

دا بو غریب په جیل بندی رونړه خواران او وینئ
په ژوندون غوښې ترے پر کیږی مظلومان او وینئ

تول یهودیان یوه نعره شوه د عراق خلاف
ربه نه یم کړے د علی رض د دوضے شین غلاف

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

# دَ ښکلو محفل

بیګاه چه دی راکړے دَ جنت حورو شراب
مستی راته سیوا کړه د ځوانئ حسن شباب

سور لاس کښې ئې کنډول وو غلے خواله زما راغله
جانانه ښخبه بے غمه د لته نشته د ے حساب

کنډول که‌ ده خوښ نه‌ وی زما شونډئ پیمانه کړه
بناښت زمانه واخله ځان ته جوړ میخانه کړه

دا نن شپه تماله ستاده بادشاهی کړه تر سحر
ځمان راته ولاړ دے د سبا ستوری دے په سر

دیوے ئې راته بلے کړې د سترګو په کاکو کښې
شراب ئې راکول راته د شونډو په کاسو کښې

رو رو ئې ځنګو له دَ لیچو په زانګو کښې
ما ستی ګے پټې کړے وے د مینے په نغمو کښې

Scanned by CamScanner

www.pukhto.net

چاپېره دانه تاؤ وو د جنت حورے غلمان
رنګ رنګ نخرے ئے کولے کمیدهٔ به په میدان

دهاونا په مینځ کښې رو سحر وو سار روان
ما خپے شونډے ایښے وے په شونډو د جانان

دو رو ئے د مستئ شراب په خلهٔ کښې دا کول
مائے سر په سینه ایښے په مکیز مکیز م څکل

سپوږمۍ په ننداره وه ستورو ځان سره خندل
جانان م پېژندلم زهٔ تیرو کښې دَ اوریل

سبا رانه هیر کړے وو د حورو دے محفل
ملا چه اذان او کړو د ر آخپے د یو اوږیل

# نکریزے

کوئیږدن که سالګره یا که واده وي د چا قام کښې
هغه کور ستا د پلار وي ته پرته ئې ورته جام کښې

تمامه شپه خوبونه کړے د جونه په لاسونه
چه د پېره مکیز داره وي تا کیږدي په نوکونه

بوډئ او ځوانه نه کوي بنګلئ ئې ته لاسونه
په سپینه تورو نه ئې سره کوے ئې اندامونه

عجیبې دے نخرے دي یو خوا بل خوا تخته جام کښې
په سر دے د راځي اب دي داوړي په ماښام کښې


www.pukhto.net

# تضمین

ماشوم کوں کلونه دا زغونه خبر نهٔ ومه
مینه کښې سره شاره د سلګونه خبر نهٔ ومه

سل قسمه د نګونه د جانان سترګې کښې مالیدل
شپه وه دا دوانه د تیرو نه خبر نهٔ ومه

زهٔ د یار په خنګ کښې ډیر مغرور وم بے پروا وم
شانه د رقیب لاس کښې چرو نه خبر نهٔ ومه

یار بے وفادار وو تورله ورځ به دیدنونه وو
زهٔ د پشکال سختو غرمو نه خبر نهٔ ومه

حسن به ولاړ عشق به اور ته ترے ګذار کړی
زهٔ د دے بے حسه معشوقو نه خبر نهٔ ومه

مات به زغمیږونه د رشتو مینه پیکه به شی
خدائیګه د رآخو د دے قیصو نه خبر نهٔ ومه

۳۱ر اګست ۲۰۰۱ء

کلام سرات

www.pukhto.net
Scanned by CamScanner

په وړلو ټریډ سنټر او پېنټاګون د حملو نه پس چه ټول سامراجي قوتونه د افغانستان خلاف یو نعره شو نو د اخو شعر ونه ما په هغه ورځو کښ لیکلي وو ـ

---

چه په بد نظر زما کنډر ته ګوري
ستا ما نړۍ به ستا بچو ته ادیره کړم

چه زما بچي په خپل دوزخ کښ سېزي
واښه طاوس به دے دنیا ته ننداره کړم

پېنټاګون او ټریډ سنټر خو ابتدا ور وه
د ظلمت دا ټول دفتر به دے انیره کړم

د غیرت تېرس مې اوکړه د خیبره
د کابل خاوره به ستا په ویښو سره کړم

د آخر زما تاریخ در ته معلوم دے
چه روس په امریکه خوره وره کړم

# وخت

خزان تل لوټې د حسن خزانې
کتابونو کښې لیک دي افسانې

ستورې زلفې چې دې سینه لوټه شي
په حضابونه او دریږي زمانې

درآنحې به در په یاد شي بنګلې یارہ
چې بلبلې دې کوج اوکړي دستانې

# پلوشه

دبه په مخ کښې د جانان چې دې سرخي وا چوله
ولې دې زړه کښې ورته دومره بې رخي وا چوله

دخوش بختۍ لیک دې دبنګلو نصیبه کښې اوکړو
زموږ په برخه کښې دې تشه مایوسي واچوله

Scanned by CamScanner

# پلوشه

د وخت ګردونو کښې پټ شوے خپل تصویر لټوم
چه زړهٔ پرې یار ته ښم نن دے هغه تدبیر لټوم

جانان قصور د بیلتانهٔ م په نصیب و اچولو
نامه د یار پرې لیک کړمه خپل تقدیر لټوم

د بڼه د حورو په بدله د زړهٔ سکون اخلمه
پر هر پرهر زړهٔ و دلبر م چرته سفیر لټوم

Scanned by CamScanner

# ژوندی خیالونه

په هر یزید شمر باندے ئے کړے تنقید و نه
مسرور دی راغونډ کړے په قلم ژوندی خیالونه

فریاد په کښ دکوندو دے ژړا د یتیمانو
غندنه د زر دارو داد رسی دَ مظلومانو
تپاک ئے هم هیر نهٔ وو د بتهئ د مزدورانو

په مرګ ئے دغنیٓ او رسوآ کړے خفګانونه
مسرور دی راغونډ کړے په قلم ژوندی خیالونه

دے ګران ځلنده ستورے په غزل کښ د اسمان
حینؐ نهٔ ئے لیکلی دی قربان تا نه قربان
پښتګ په فلسفه دے د بابا عبدالرّحمانؔ

یاد کړے ئے زیاتی ئے دخوشحال بابا شعرونه
مسرور دی راغونډ کړے په قلم ژوندی خیالونه

تیر و کښی د حرص شوکت حسین پلو شین نمر دے
د نثر پهلوان ذ مونږ مفلس د هشنغر دے
په تن به وی بو دا په حوصله ز لمے قمر دے

د ژوند په هر ډګر کښے د قام کړے خدمت نه
مستور دی راغونډ کړی په قلم ژوندی خیالونه

د زړه په حال خبر کښے سید ولی او سلیم راز
د عاجز تل په خله وی وږ مے نوم د جهانزیب نیاز
اقبال ورته منو دلے د شاهین غونډے پرواز

منشی محمد زمان نه د غنی کړی تپوس نه
مستور دی داغونډ کړے په قلم ژوندی خیالونه

پښتو کښے ده ستائیلے په معنیٰ دین او ایمان
مرید د ستر بابا دے د ملنګ فخر افغان
ډلر او بیر ترون د زندګئ کښے غتر ارمان

مهر عمران د هبر د هشنغر سیمې ګلونه
مستور دی داغونډ کړه په قلم ژوندی خیالونه

Scanned by CamScanner

ذن تیر شو او سبا خۀ غم پکار دعاے شاهینه
راځه چه سره کینو ذنکړو دا خبره سپینه
دا سیمه هشنغر کړو تشه مینه مینه مینه

دڅوند په فلسفه مرګی ایښی کلک لا تسو نه
مسرور دی راغونډ کړے په قلم ژوندی خیالو نه

کیله ئے په کښې کړے د شاهکار او د ساګر
کیدے شی د مجیب نه وی خفه په خۀ خبره
راځه چه کیږه اوکړو قیصر شاه د هشنغره

والله په دراخم لری د پلار همره حقو نه
مسرور دی راغونډ کړے په قلم ژوندی خیالو نه

۷۔ جولائی ۲۰۰۲ء

دَ محمد شاه باچه حجره رکښې

خان عبدالغنی خان۔ اول خان رسوا۔ اکرام الله گندآن۔
قمر نرېوال۔ محمد اقبال حیران۔ مهرمحمد مهر۔ عمران خان
خان۔ پیر مکمل شاه رهبر۔ مرتضیٰ خان شاهین۔ ارشد جان
شاهکار۔ فضل علی ساګر۔ قیصر علی شاه قیصر۔

ستر محقق دانشور تاریخ دان او شاعر

# رحیم شاه رحیم ته

دا په قلم دَ خپل تهذیب چه خدمتونه کوی
دا پے پروا چه هر یزید سره جنګونه کوی

دا بے لوګی چه شو ایں ے دخپل احساس په اورکښ
یوه نعره شي لر او بر ته منتقلونه کوی

دا خپله خاوره مقدمه په اولاد چه ګټړی
دا په نفاق چه پښتنو ته پیغورونه کوی

دا چه تحریک ته د جلسې جلوس حاجت نه ګڼړی
چکئ کښې بند په قلم قام ته تقریرونه کوی

اصل وارث دے د احمد رحمان خوشحال او حمزه
په خپل کلتو ر تل د مغرب سره بحثونه کوی

دا خپل لیکل چه عدالت کښې د پوهانو پیش کړی
دا رحیم شاه دے چه یو بل پړے تنقیدونه کوی

د محبت دیره به ئې بلې په مزار کړی یو ورځ
د غه ناپوهه چه په ډوند ترے نفرتونه کوی

د رآنی شکر چه په صف د شاعرانو شمیر شوے
پس د مرګی به کال په کال د رله عرسونه کوی

# پلوشه

دیر نادان وی چه اعتبار کوی په ښکلو
ازغی تل وی پټ لمنه کښ دَ ګلو

په نازونو ئے دوکه نهٔ شې د ر آشنایانو
باغ دَ زړهٔ تل پټ ساته د ے بلبلو

# پلوشه

دیره موده پس دے زهٔ اشنا کوځے ته راغلمه
او ښکے مے جرګه کړے په ژړا کوځے ته راغلمه

لږ سر را پورته کړه دا زخمی ځیګر مے اوګوره
تهٔ ل سورے سورے په تیټه ملا کوځے ته راغلمه

تا د خپل جانانه د رآخے په پخوا وژلے دے
غشی په سینه کړه زهٔ دے بیا کوځے ته راغلمه

Scanned by CamScanner

# دَسوات میا دم پائنده محمد خان

---

هر یو لفظ دے په واللہ دک د تاثیر دے
ستا قلم دَ پښتنې ژبې سفیر دے

ارسطو او افلاطون درنه قربان شه
ستا تحریک کښې د پښتون د خوب تعبیر دے

کۀ الوت دے د فکر ونو تر اسمان دے
د ناول بادشاه طبعیت دے د فقیر دے

نۀ خرخیږی سوداګرو بولی مۀ کړئ
دا قلم د تحریف نۀ دے د تعمیر دے

سر بالا دے په همه نرئ پښتون وی
دا تقریر د پائنده خان دا ئے تحریر دے

د پښتو ادب به تل په تا نازیږی
اغزی لے پت غیرت دے په خمیر دے

محققه دا نشوره تاریخ دانه !
هر ناول دے منفرده بے نظیر دے

الپوری عبدالعظیم کۀ پاینده خان دے
د سوات سیمے هر لیکوال دے با ضمیر دے

مخامخ مے د ر آخرے لیدلے نۀ دے
په تحریر کښے ئے بنکاره دا ته تصویر دے

۸، اکت ۲۰۰۶ء

# تظمین

ازاد او روه حق دیې تړون خبره ده
دلراو بر پښتون دپیوستون خبره ده

د سر په بدله کابل ازاد کړی د سامراج
خیبر په چغو ژاړی د پښتون خبره ده

او نهٔ شوله په صبر د خوشحال تورې ته لاس کړی
په زره خپل حق واخلهٔ د ژوندون خبره ده

ازاد ژوند په نړیٔ د هر وګړی روه حق دې
خیرات مهٔ غواړه چانه د قانون خبره ده

چه مومنږ به ئې او ده وو تل په غیږ لکه د مور
صدیٔ پړ ې تیر ې نهٔ دی د پرون خبره ده

Scanned by CamScanner

ز غمځیږ د نفاق مات کړئ یږه خلقهٔ اویږ اوازشئ
باقی د غیږ غماز نه د پړ یېکوړن خبره ده

صدئ تیږے مشوے دونږو غوږ په لاسو هیڅ رانغلل
بیدار شئ باتږرانږ اوس د یږن خبره ده

تږ څو به نیلا میږی عنږتږ نه دَ ملا لږ
ے وند ته کږے اوکړئ د جنوڼ خبره ده

کږ هر چادے مږ ندلے درآنی د سیند په غاړه
دریاب کښی ورغږتږ شه د لتږن خبره ده

# غزل

اسمان ته که د خیال دَ تانرو سر و نه تېږ شی
بلبل ته په ګلشن کښی دان غر سر و نه تیږ شی

کهٔ مومنې د حرص دان و لئے د بنېو نه لر کړے
غیرت ته به په بنېو کښی دپېسو سرونه تیږ شی

کامله عقیده کړه چه دے خپل ایمان پوره شی
کعبې ته به دَ تو لوبت خانو سر و نه تیږ شی

د هر دور یذید ته مومنې و رکړے حوصلے دی
زامن چه غداران شی دیلرو سر و نه تیږ شی

Scanned by CamScanner

زلمی شم به پښتو د غم ښکار شو [illegible]
لاړ چه شی تر منځه د ښکلو [illegible]

منګې چه د ګل د ژ پښتنه به [illegible]
نشته نه ئے د ترلو میخانو [illegible]

دوکه به زلفو نه شي د رآخج تنه ته [illegible]
چه ګیر به لو پښتو شی د کمڅو [illegible]

---

# غزل

دا به شي بیا دا به شي دا آخري ځل نه دے
لیک به پرے غزل کړمه ذهن مې لا شل نه دے

او ښکلو لرے او دیره مې لاړ به شي نظر زما
ختم د یار دیدن له زړه ختم لا منزل نه دے
دومره زړه بلد کړمه یار د هجر شپو سره
اوس د مسئلې زما خدا ښکلو وصال حل نه دے
یاره دومره ځې مه چیره لاس کښې به تش نس دې شي
دا زما نازک زړه دے ستا د زلفو ول نه دے
دومره غزلونه ما هجر کښې لیکلي دي
لیک چې به وصال شي اوس وایم دا غزل نه دے
ټیک وائې ناصحه خو ښکلو ترې نه ستون شمه
لا خو د ښېو لاندې ځې زړه زما خجل نه دے

ګوره سرسري ورته شمیر د چپو مه کوه
شعر د درآخې دے دا نظم د اجمل نه دے

Scanned by CamScanner

# غزل

نهٔ به کم شي ستا د حُسن پتنګان
نهٔ به وران شي په مرګي زما جهان

چه په تعل کې دولت درونډ وفاوې سپکه
څهٔ روزګار به هلته اوکړي غريبان

د ګرانئ ورو ميې سپړلې په يار داغلې
د کچه کلئ بې شميره وې ياران

ګل په قدر د ماليار هله خبر شي
چه وجود ئې تش ازغي شي په خزان

د خندا وېش ذرخريدو سره اوکړه
د درآخرې دے ستا د او بنګو قدردان

Scanned by CamScanner

# غزل

چه درنه سوړ د هجر اور نهٔ شی
د زړهٔ زخمونه مې تکور نهٔ شی

د اوله غشی لا سلګئ وهمه
زبیرګی مې عشق ته پیغور نهٔ شی

د ظلم پیټې په دنړا د الیږ ه
تیاروکښې دوک ترے زما کور نهٔ شی

د هیڅ کے به محسوس نه کړے کوکئ
کهٔ دے نظر زما په شکور نهٔ شی

مونږ غریبان یو از لی بد بخته
زمونږ سایه دے ستا په لور نهٔ شی

دوک منزلونو ډاته خپې پرلئ کړے
د منزل کړینې ډاته کور نهٔ شی

Scanned by CamScanner

# غزل

نن دې مړو سترګو خهٔ خراب ئې خرابهٔ دردونه راکړل
بڼو دې یاره په تلې تلې کښې څو داغونه راکړل

زړهٔ مې سوری سوری شو وینې مې په خلهٔ راوتې
زخمي زخمي شوم په ځیګر دې ګذارونه راکړل

د تورو زلفو په زنځیر دې عمري قید کړم اشنا
لکه د پیوی بند په بند چه دې ولونه راکړل

چه په خندا کښې د رخسار نه دې نقاب ښکته شو
شرندوې ماته دَ شرابو پیغورونه راکړل

د آخرې قام چه خاموشي مې خفګان او نهٔ کړې
د مینې داز به پټ ساتو یار قسمونه راکړل

Scanned by CamScanner

# غزل

مئین چه شوے زړګیه نفرتونه خو به اوړے
سحر ماښام د ښکلو پیغورونه خو به اوړے

د حسن په بازار کښې څه قیمت د وفا نشته
جیبونه چه خالي وي ګذرونه خو به اوړے

په دے مادي پرسته دنیا کښې غریب خس دے
وصال ته چرته راځې په زړه داغونه خو به اوړے

خلوص خو څه ډوډۍ نه ده چه موړ به ترې جانان شي
چه تشه جولۍ د اوړے نو اهونه خو به اوړے

په دار کښې منصور شو درانی ګیلې ته مه کړه
دیدن ته چه راځې نو تهمتونه خو به اوړے

Scanned by CamScanner

# غزل

نن دے مړو سترګو خۀ خوابۀ دردونه راکړل
بنهو دې یاره په تله تله کښې څو داغونه راکړل

زړۀ مې سوری سوری شو وینې مې په خلۀ راوتې
زخمي زخمي شوم په ځیګر دے ګذارونه راکړل

د تورو زلفو په زنځیر دې عمري قید کړم اشنا
لکه د پیوی بند په بند چه دے ولړنه راکړل

چه په خندا کښې د رخسار نه ئې نقاب ښکته شو
شوندو ئې ماتۀ دَ شرابو پیغورونه راکړل

د رآخې فام چه خاموشي مې خفګان او نه ګڼړې
د مینې داز به پټ ساتم یار قسمونه راکړل

Scanned by CamScanner

# غزل

چه شي جنګ ستا د حيا ـ نـ زما دَ مينے
کوره د زهرو به کړم خپلې د زړهٔ وينے

ستا عزت پاندے به خپل عشق فدا کړم
داد ے لوظ د يو پښتون اے ګل ورينے
کهٔ وفا کښې شوم سر تيټے د د ته يار ه
شو ے زما په نامه ستا جاے خيـ نے
زما زړهٔ کښې هسې هم جوړ ستا بتان دی
ظاهري تصوير به ستا لـ کړم شير پينے
خپل نيمګړے ژوند به او نيمه او د ته
نوم به وا نخلم په شونډو ستا د مينے
پر رنګينې سحر زما بس تر قيامت دے
اوس په سترګو مې دے راوځي د زړهٔ وينے

در آخے خو هـير چغرا مر و کښې شمير وو
داير خوګړ ئ خو تا ئے کړے رنګينے

۷ ـ جون ۲۰۰۱ ء
بحرين

# غزل

زلفې په مخ دې راخورې کړه دا شه
غشي بانړه ورو وځ لیندې کړه داشه

ستا انتظار د ځنکدن نه سخت دے
لندے دړو ند م ورځ شپے کړه راشه
دَ مینې تندے م ځیګر ستی کړو
خلهٔ میخانه شو ندې کاسے کړه راشه
دار وی که اور وی که تو روند لګی
کو کیٔ تازه زړے قیصے کړه راشه
دو ختګر دونو دے غمو نه پټ کړل
ښخې دغم نوے خیمے کړه داشه
خو به لو ګے لوګے ځوانی م سوزی
جوړے پړے سے سرے ملے کړه راشه

نور دے د صبر امتحان مهٔ اخله
درانی زړهٔ پوړ ګړنر دے کړه راشه

Scanned by CamScanner

# غزل

چې مې تور خال په مخ د یار اولیده
تخلیق د رب مې نن په جار اولیده

خاموشه ناست وو په بلۍ د شعرونو
چې مې د حسن څرکیدار اولیده

بورا د سرو ګلو ښکلا زیاتوي
ما خه ناشونې غوندې کار اولیده

په قدرت پوخ چې د انسان ایمان کړي
ما په فطرت د اسې اثار اولیده

د شرمه سره شوه چې ئې په ما نظر شو
د رآخې یار مې په سینګار اولیده

# غزل

داخپل تندی مې ماتولو خو چا پرې نه ښودم
سر مې د غرونو جنګولو خو چا پرې نه ښودم

زما بچي چو پال کښې پروت سپو ته کوټې جوړې شوې
سپیره تقدیر مې سمولو خو چا پرې نه ښودم

چې رڼا ګانې او خنداګانې د من دور سلګۍ دي
د غم محل مې نړولو خو چا پرې نه ښودم

چې په کښې لیک ده هر غریب ته د تباهۍ من دوري
ظالم نظام مې بدلولو خو چا پرې نه ښودم

کړه مې په وینو د غریب د کور تیاره رڼا شي
درانی خپل ځان مې وژلو خو چا پرې نه ښودم

Scanned by CamScanner

# غزل

زړګیه اوښکه دلیمو شوے دادے څهٔ اوکړل
تیر د قاتلو په کوڅو شوے دادے څهٔ اوکړل

چې ئې جګړه په پښتو نه په پیسو کوله
وے خطا په دا سې غلو شوے دادے څهٔ اوکړل

سترګې ړندے غوږ ئې کاڼۀ لاسونه شل شولو
ګیر د حرص په زولنو شوے دادے څهٔ اوکړل

پیغلو بنګړی زلمو ته داوړۀ د پیغور په توګه
لاړے بے پته بے پښتو شوے دادے څهٔ اوکړل

پرون د پیغلو د سر تاج داوربل ګلچے درآنځے
نن ئې خسرے دګمخو شوے دادے څهٔ اوکړل

Scanned by CamScanner

# پلوشه

یاره چه څومره ته نفرت زیاتوے
هومره مې خدائیګو محبت زیاتوے

ما د جفا په چړو مه ویره وه
په هر ګذار دا ته همت زیاتوے

# پلوشه

ستړے مې او چې په ژړا شوے د جانان دغمه
د عشق غم کړم بے خبره د جهان د غمه

تمامه شپه دکور په لور دے اسویلی کړمه
خوب دے زمانه تښتیدلے د هجران دغمه

Scanned by CamScanner

# غزل

سر به تر ے زار کړم په بدل د سراد زانه ښکاری
ذوے د منصور یم د اسو دا ر ا ته اسانه ښکاری

زۀ خو ئے تل د ښکرو شرنګ ته شوګیر ے ګومه
په دنړا و رځ م په لیدو و لے حیرانه ښکاری

د لو پټې پلوئے خلۀ کښ ځۀ او تړه شان ده
مخکښ روانه په شاګوری پریشانه ښکاری

د ژوند په هر از مینت م تول کړه چه یقین ئے د راشی
ستانه بغیر د اته ګل رنګې د نیا و رانه ښکاری

ستا انتظار د ے د رآنی چه یم ژوندے تر اوسه
ګنم سپر غئ م اسویلو کښ د اسمانه ښکاری

Scanned by CamScanner

# غزل

په یار د حسن ور ځې شپې تیرې شوې
شکر د زړهٔ رم اندیښنې تیرې شوې

اوس به رقیب ترې نه په دوه ګرځي
دَ توروزلفو سلسلې تیرې شوې

هر مان یګر چه به ئې سیزل عاشقان
په هغه مخ د اور لمبې تیرې شوې

زما د سترګو نه په لور د ګمر یوان
په مخ د اوښکو قافلې تیرې شوې

جانان ته اوس غمونو کډې اوکړې
په درآخې د غم چپې تیرې شوې

Scanned by CamScanner

# پلوشه

د فرهاد په سوری رنګ دے ستا قسم وی
د مجنون په یو یو سنګ دے ستا قسم وی

چه کوڼ سترګے د راځے رقیب ته نه کړے
د خوشحال په توره ننګ دے ستا قسم وی

# لنډیزه

د پښتون بچیه پاسه د ابیدا د کړه ټول ځوانان
د نړۍ په نقشه ځګ کړه سور بیرغ د باچاخان

د دنیا حالات بدلیږی قام پرست بوه نعره کړه
چه په ګور درنه خوشحال شی نر پښتون فخر افغان

Scanned by CamScanner

# غزل

سترګې دې تورې دې په کجلو کړې نن چا ته ګله
رښتیا رښتیا وایه روانه شوې کوم خوا ته ګله

کمخور کړې بره سرۀ ګلونه لاس دې ډک د بنګړو
شونډې جامونه د شرابو غښي جوړ د ښيرو

د چا بینا دې د مړک کړې وایه ما ته ګله
رښتیا رښتیا وایه روانه شوې کوم خوا ته ګله

ما زیګړی دی انارونه د دنیا مهٔ اخله
امتحان نور د عاشقانو د وفا مهٔ اخله

دا ملنګان دي اوسې دسي معلّی ته ګله
رښتیا رښتیا وایه روانه شوې کوم خوا ته ګله

حسن فاني دې دا غرور به دې ذره ذره شي
ګلونه مړاوي ګلستان به دې ایره ایره شي

مستی یو ورځ به دے نیتی شی وایم تانه ګله
دبنتیار بنتیا وایه دوانه شوے کوم خوانه ګله

وخت د یر ظالم دے پروانهٔ لری دبنګلو یاره
د یرے ځوانئ خاورے کړے دی د ګلو یاره

لاسو نه پورته کړه توبه او کړه الله ته ګله
دبنتیا دبنتیا وایه روانه شوے کوم خوا ته ګله

---

Scanned by CamScanner

# غزل

کهٔ دا نه تاؤ شی ښکلی ټول د جهان
بیا به هم ستا یم د عشق په میدان

ستا انتظار کهٔ دوک منزل دے خیر دے
ځان به سیزم په سرو لمبو د هجران

د زړهٔ د خریکی چه نغمے جوړے شی
ګوته په خلهٔ شی فرښتې د اسمان

څوک په خندا څوک په ژړا خیلوی
مکر فریب م کړی دَ ښکلو حیران

Scanned by CamScanner

څه لږ زيړو نکې شپه وه تېره شوله
د هجر دښته کښې د او ښکو باران

چاته شي درد چاته مرهم په زخم
جلاد جانان هم مسيحا دے جانان

تنکي خيالو نه دے تالا تر غه شو
د دآخر خلے دے کړه جوړ په ارمان

۲۔ جنوری ۲۰۰۵ء

Scanned by CamScanner

# غزل

د هجر توره شپه د اسویلو سره شوه تیره
د تړمو تړمو او بنکو او سلکو سره شوه تیره

په ما که یې شپیره د ستورو او کړه تر سحره
په یاد هم تر له شپه په وسوسو سره شوه تیره

ستی که یې پتنګ کړلو د ځپل بنا ګټ په اورکښ
د شمعې ځوانی هم د ښهو لمبو سره شوه تیره

مستی ځوانی او حسن په تشبیه د ماڼ یکړ دی
سرخی د شفق لاړه د تیرو سیوه شوه تیره

Scanned by CamScanner

پیکه د وخت کړ دونو ئے لالی دَ انګو کړو
شوخی د ستر کو لاړه دچشمو سره شوه تیره

تهٔ ورد د لا اله کوه په ګوټ کښ دَجمات
زما شیخه کوکئ د سویلو سره شوه تیره

په دار دام او رسئ به درآخم چه تل ستا ئله
د زلفو قافله ئے دګمخو سره شوه تیره

Scanned by CamScanner

# غزل

بې مقصده زندګۍ نه یم زړه تنګ شو
ځکه تېښته کړې د خلقو نه په خنګ شو

اوګې سترګې یم په حُسن نهٔ مړېږي
د هر باغ ګلۍ لولۍ سره یم جنګ شو

په تربور تربور چه شر به کړمه تته
ناګهانه کړمه ترپ د بنګړو شړنګ شو

د بورا په شان ګلونو پسې ګرځم
بنګلوم ئې زهٔ لالا یا کهٔ لونګ شو

Scanned by CamScanner

د گناه ثواب په فرق نهٔ پوهیږم
منافقه شومه زړهٔ مې جوړ زنګ شو

سرګردان یو د کوکۍ پسې روان یم
زړهٔ مې ګیر دانه دحسن په غورځنګ شو

اوس خو ټول عالم خبر په دغه راز دے
درآخره دیار په عشق کښې ملنګ شو

---

Scanned by CamScanner

# پلوشه

خوښ په بیابان یمه مګرې د خپل یار سره
نۀ ځمه ګلشن ته زۀ په څنګ کښې د اغیار سره

توره شپه به زېږي د راځي د سباوون راوړي
ګل هله شي خپل چه زخمي کړي ته شي د خار سره

# پلوشه

کۀ په مینه کښې صادق یې لوغړن لکه پتنګ شه
د رقیب سترګو کښې خار شه ښۀ ټکره لکه اورنګ شه

په جرګو د سپینو اوښکو د راځي یار چا خپل کړه
د تدبیر خبرې پرېږده خپل تقدیر سره په جنګ شه

Scanned by CamScanner

# غزل

لکه لاله دخپل زړګی زخمونه ګورمه زهٔ
دَ ازغو مینځ کښ د وصال ګلونه ګورمه زهٔ

کړی چه پیوند د لړاوبړ د زنځیرونو کړیٔ
غزل ته داسے دوه څلور شعرونه ګورمه زهٔ

سترګے او شونډے م د پیغلو هر شاعر ستائی
د سر پړونی ته ئے خوک تادو نه ګورمه زهٔ

چه اوبهٔ خور پرے دخیبر داوچو دښتو اوکړم
دامو سین نه تر جهلم ورخو نه ګورمه زهٔ

Scanned by CamScanner

چه بو زغلي تر ے د پښتون د پت غیرت اوکړمه
په پښتنه سیمه یې خو سرو نه ګورمه زهٔ

کهٔ دا پې یو تې حوصلې پر ے د پښتون پو ر ته شی
و رته کتاب کښې د خوشحال قو لو نه ګورمه زهٔ

په دا ر ختل د مینې جنګ کښې لیو نتو ب ګڼم
د قام په جنګ کښې د رآخې دارو نه ګورمه زهٔ

Scanned by CamScanner

# غزل

یاد د اکړے تهٔ ل زخمونه چې په زړهٔ دی
تکلیفونه او دردونه چې په زړهٔ دی

قتلګاه د وړو وخو منځ کښې شنګے حال
د پیغوان شو نړو جنګونه چې په زړهٔ دی

په پانړ یبو کښې په ناز نازن قدمونه
په ویښتو کښې سرهٔ ګلونه چې په زړهٔ دی

په هر خط کښې د د امیلو امیدونه
ستا وعدے او قسمونه چې په زړهٔ دی

بے قراره انتظار سکنړی مابنام کښې
ستا دیدار ته منتونه چې په زړهٔ دی

دکه دړ غاړه یخ سوړے دخروله
د دانیه ! تهٔ ل یادونه چې په زړهٔ دی

---

Scanned by CamScanner

# ووټ

دووټرو څو به دوکه کیږو غوله وو به دا خپل ځان
په لختی پاټې او کمو به کړو سودا د خپل ایمان

زما خر په سړک څه کړی نه دګیس لړ مه تړان
په ایکسچینج او ټرانسفرمرو باندے څه کړی غریبان

دا نه پنځوستم کال دے نه به د اشوم زوځم ځان
پلار م هم په طمعه طمعه ګور له لاړو په ارمان

یو وے نه به درته مفت کړمه دودی کېږه مکان
بل وے ما سره اختیار کښ د جنت حور دے غلمان

چه موسم د الیکشن شی دا سے و د وځی لیډران
لکه خنک چه پشکال کښ د ابهر سیر شی پتنګان

دا م خپله نا اهلی ده تل د ووټ کومه زیان
د روزګار په لالچ و رکړم امانت د باچا خان

خهٔ ناشی نے غونډے کار ؤ خپل قسمت ترشم حیران
د پنجاب د یران کړی ګټه زما نه د تل به تاوان

خدایه بل لاره بنود پیدا کړه رحم اوکړه په افغان
هر یو قوم په بره خیژی مونږ په بنکته یو روان

دا ګناه زمونږ ده خپله هیڅوک نهٔ دی قصور وار
چه پرے مونږ منزل ته رسو دا نه هیرٔ هغه لار

د پردو یوسو څوکیٔ کړو یو په کلی کهٔ په ښار
د حرص تیرو پ ا ندهٔ کړو لاس کښی نیسو انکار

اے ملنګ فخرِ افغانه لاړو تمام دے شو تار تار
هم هغهٔ چے روان وی چه څوک نیسی ئے مهار

د شهباز بچی تپوس شو په دربرو وی داغیار
شپه او ورځ بل ته ګډیږی لکه ډمه د بازار

د دنیا حالات بدلیږی ځائے چه ځان و رته بدل کړو
یا به حق په رضا راکړی یا میچنی به پرے دل کړو

د خیبر ناوې ته زلفې به په خپلو لاسو ول کړو
یا به جوړ پښتونستان کړو یا به مخونه خاورې خجل کړو

۱۳۔ فروری ۱۹۹۳ء

ژوب بلوچستان

# زما زوئے زریاب درانے

وړے وړے خبرے ئے زړۀ لوټے راته د غر کړی
په سترے سترے ژبه چه قیصے د بچو بر کړی

دادا سره م کیچی زۀ پرون ئے ووم وهلے
زر منډه کړی د مور په غیږه پټ زما سر کړی

وړو وړو خبرو نه قیصه لوئیه کړی جوړه
سندرا ته میینه وائی ګډه بچې داته د خر کړی

نیمګړے خوب نه وینی م کړی چه سترے شی یواځے
د پاسه داداجا نه خوک اواز درته بهر کړی

امی بلا د اغلے وه یواځے چه زۀ کور ووم
مجال شته کۀ دو پټے نۀ وی چه بند دغه دفتر کړی

کوکۍ به د رله درکړم کۀ پیسې راکوے کیک له
بیدار لکه بلال دغوي چه ملا آذان سحر کړی

Scanned by CamScanner

جاے ئے تل پہ دئ وی د پیزاب د غیسے خال دے
چہ څوک ئے ورته داوړی دے په نوم ئے د عمر کړی

غربته لږ دو راکړه چه ارمان ئے زۀ پوره کړم
بچے څۀ درته واخلم دے به څنګه د موټر کړی

خبر د ځان نه نۀ دے چه په تن جاے پردئ دی
د هر کاله دی هارن پیسے به زر منډه بهر کړی

دا دا ستا موټر راغلو زر خپلۍ داته راواخلی
زما پتلون دے څیرته مو رسره په کور رکښی شر کړی

د مینې سمندره ما ته کړان د خپله ځان نه
زما د با غچے کمله الله دیر دے عمر درکړی

۲ مارچ ۲۰۰۱ء

# د زړه آواز

جان سره خبرے کړم جانان سره خبرے
شپه او ورځ یو ائے کړم خپل ځان سره خبرے

خه کړمه رنګونه خپلې شونډے مې بے رنګه شوے
غوره هغه انسان چه کړی خپل شان سره خبرے

ورځ مې که تنګ لحد کړی شپه راته وجود سیزی
سره کلونه نه کړی د خزان سره خبرے

مینه هله خوند کړی چه وی جان او جانان سیال
زه کړم د مرګی ته د جهان سره خبرے

ته وړه غوټئ زه ګل یم وخته د ژیړلے یم
ستا قابل زه نه یم کړم خپل ځان سره خبرے

او چه شی اعلان د رانی مړ شو وارخطا نه شے
څو پوړے کوے به ئے هجران سره خبرے

# انقلاب

او بنکے چه وینې شي سلګو سره اهو نه راشي
مرئ چه غریو شي د ظلمونو طو فانو نه راشي

چه د بلبل اواز بندي شي په پنجره د اغیار
چه د ګلو شونډے زخمي شي په نیزه د څپل خار

چه د اسمان لمنه سره خاموش ما بنام اووینې
د سحر باد ته چه د ګل غمژن پیغام اووینې

چه د غربت لړے هرخوا اقور ے تیارے جوړے کړي
چه په دوو دئ پسې مخلوق چغے سورے جوړے کړي

د خو یندو لونړو لوپټه چه ګنډو پورته شي
چه د ځوانانو نه څرمنے په دندو پورته شي

چه شي او به خروب مهیان پراندہ دریاب کښې شي
سلګئ بدلے د رآخے په انقلاب کښې شي

۱۷، نومبر ۱۹۸۷ء چارسده کالج

# دورنګی

نهٔ کوم د شونډو او د رخسار خبر یم
نهٔ د لولئ ګل او بهار خبر یم

نهٔ د رباب کباب شباب ذکر کړم
نهٔ د مابنام ساقي میخوار خبر یم

نهٔ ذهٔ نغمې. دَ بلبلانو اورم
نهٔ مازیګر کښې د دیدار خبر یم

نهٔ یم عاشق نهٔ معشوقے خوښوم
بدے ګڼمه په ځار ځار خبر یم

نهٔ یې د ننګر نه د لا لا خوږین دی
نهٔ د نرګس د انتظار خبر یم

ذهٔ د غربت دوزخ ایره ایره کړم
تل به لیکم د اور انکار خبر یم

Scanned by CamScanner

لو گے ہے خیر کۀ نغری کبنی نۀ وی
خو چه بیان کړم د دلدار خبرے

زۀ خپل بچی په دلاسو مارۀ کړم
لو ستونکی غواړی خوش گفتار خبرے

د بے وسئ چکئ چے دل ځوانی کړه
ځۀ دنګې او کړم د خمار خبرے

شاعری نۀ کړم د زړۀ بوج سپکه وم
په دا ننګ ‌ډیللې کړم په جار خبرے

دد آخر نۀ دے دور ننګی عالمه
چه خودی سکرکی کړی د اچار خبرے

Scanned by CamScanner

# ګل دسته

ګلدسته ماد هغه نابغه لیکوالو د نومونو او تخلصونو نه جوړه کړې ده چه د خپلې مور دنیۍ ته یې او خاوری یې په غم ستی دی۔ دا هغه سپیڅلی خلق دی چه د نړګونو کالو اګاهو دود دستور او رسم و رواج یې نن هم په قلم ژوندی ساتلی دی۔

د ګل د ستې هر لفظ د لیکوال نوم یا تخلص دی چه ما په شعر کښې بلحاظ معنیٰ استعمال کړی دی

دراخلی

داجمل، ساګل، سیلاب نړۍ ته سلام کړی
چه یې قام په کاڼو اولی او دوی خاندی

قلندر اباسین نړۍ د حمزه دی
په خاطر د علی خان څی هشنغر ته

ګران اعظم کړو پریشان د چا فرمان
دوی خو هر چاته په روڼ تندی خندا کړی

چه ملنګ رحمان خوشحال مفتون یې هیر کړو
هغه قام به د غنی خټه تدداؤن شی

Scanned by CamScanner

یو بشرؔ یؔ ده پښتنه دوه کاکا خیل دی
چه پښتون قام ئےؔ په جپل قلم ژوندے کړو

قانتهؔ ذیتونؔ بیبیا نے پښتنے دی
ګودد بنپو به ئےؔ توؔل پنجاب کښی بدل نهٔ کړم

سمندر کوزه کښی بند کړو خټکانو
دا ټک دریاب به خهٔ پرے اثر اوکړی

نیاؔز رضا کړو زا خیلیؔ سوزؔ د دهقانؔ
پښتانهٔ وو جدا کړے سرو اجړنو

نورین شمعؔ کړه روښان په هشنغر کښی
اوس به جوړ نےؔ د نړا ته شاعری کړی

معظمؔ جانه کده نغاړه هغه چم ته
چه سپوږے په کښی په وړی خزان مسکے وی

د حسرتؔ په نظر ګورمه شاهینؔ ته
چه پرواز کوی په د نګو د نګو غرونو

[illegible]

[illegible]

[illegible] مفلس مفتون [illegible]

[illegible] خالی [illegible]

---

Scanned by CamScanner

عبدالصمد خان اچکزئی بابا ته د عقیدت پیرزوینه

# پاسه خان شهید بابا

سوات وزیرستان کهٔ باجوړ دے او ریږے بل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے یرغل دے

هر طرف ته ادبنیکے دی سلګئ دی فریادونه دی
کور په کور ماتم دے حسرتونه دی اهونه دی
وینځکښی لت پت امام بارګاه او مندرونه دی
نهٔ حجرهٔ محفوظ ده بابا نهٔ موجماتونه دی

خان او ملا یرغو د پښتون بچو ته چل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے یرغل دے

خرڅ لکه سن تیس بابا ملیانو ضمیرو نه کړل
نوے نے سامراجو سره خپل ذات ته لوظونه کړل
جوړ په مدرسو کے د بارود دو امبارونه کړل
ماته ئے مور چه ممبر محراب او جماتونه کړل

ستا د [illegible] د اجل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے پرغل دے

تحفظ د ننګیالو شو، لر او بر یې کړه د افغان ټوټې
نۀ چې ته [illegible] نۀ اعلی نۀ [illegible] ټوټې
روح د ملنګ جانان او خوشحال خټک د [illegible] ټوټې
ناست د [illegible] ټوټې

تا چه پرے سر اېښودو له هغې هغه منزل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے پرغل دے

ستا د فکر شمع به رڼه تر قیامت ساتم
د پښتون د ښمنه نظر به نه په نفرت ساتم
تل به لر او بر سره رشته د محبت ساتم
جګه به شمله دے بابا جانه د عظمت ساتم

ما دیت غیرت سبق زده کړے دۀ اجل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے پرغل چې

او به کړم تړون د لر او بر په یو افغان بابا
جګه به شمله د پښتنو کړم تر اسمان بابا
خدائیګو ما ته یو دے باچا خان او صمد خان بابا
یو ئے مدعا یو ئے مرام یو ئے ارمان بابا

تل ئے لوځ بنیے په سر وغر مو کړے منزل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے یرغل دے

کړم به دا بیدار او ده جذبات د ننګیالو بابا
ما جاړے لیدلے په خیبر د توریالو بابا
تل تاریخ یاد کړے به نامه د جنګیالو بابا
سیال به پښتانه کړی د قامونو د سیالو بابا

وائی درآخے جنګ م داغلے تر درشل دے
پاسه خان شهید بابا په خاوره دے یرغل دے

۲۳۔ جون ۲۰۰۷ء
ترنګزئی

Scanned by CamScanner

# یوه حادثه باندے

ستا د لوییٔ مې ربه تل پټ پټ صفت کړے دے
د هر انسان نکه د خدائے مې عبادت کړے دے

په سمه او غرمې تل د ظلم نه نفرت کړے دے
ما خو د دشمن سره هم خدائیګو محبت کړے دے

بیګاه مې تر له شپه په تیر ډوندون سوچونه کول
دیو یو ورځ مې د خپل زړهٔ نه تپوسونه کول

تل مې خالقه د خپل نفس سره جهاد کړے دے
ویش مې د مینے په کوټ کوټ د خپل هیواد کړے دے

د هر تکلیف الزام مې تل په خپل تقدیر ایښے دے
د زړهٔ البم کښې مې محفوظ یو یو تصویر ایښے دے

Scanned by CamScanner

ما ته کندوه کښې چه م تول کړل خپل ګناه او ثواب
و الله خالقه لا ئق نهٔ وم ددے دومره عذاب

اوس خو عبث را ته بنکارېږي ربهٔ تا ته فرياد
داداؔ سره دے کړو ماشوم افراسياؔب برباد

۱۲- مئی ۲۰۰۷ء

سخاکوټ ملاکنډ ايجنسی

لے دادا شبير دراني
ٕ۲ے افراسياب زما کشر زوے

# تظمین

د خپله کلی مزدوری چیسے بهره یاره
د ختو لو ته کور دے هیں نۀ شی
دولت کنی روک نۀ شے زمانه مسافره یاره
د ختو لو ته کور دے هیں نۀ شی

سپرلے چه گل شی بلبلان اتنی چمن کبنی جوړ کړی
ستا د دا تلو طمعه زما پیدا شی
سحر گلئ چه پرخه بینکل کړی او خندا جوړه کړی
ستا دَ دا تلو طمعه زما پیدا شی

دا څه دا څه چه غاړے ورکړو یو تر بله یاره
د ختو لو ته کور دے هیں نۀ شی

غم لو شوے ځائی په ځائی ته پکی کیدئ پرتے دی
دا څه دا څه چه پټ پټو نرے اوکړو
غوبل شروع دے دهرکوده د مستئ چغے دی
دا څه دا څه چه پټ پټو نرے اوکړو

Scanned by CamScanner

د پښتون خوا خاوره جنت دے بې خبره یاره
د خټو لوټو کور دے هیر نه شی

ورک دے دولت شی دیو دئ موره چه زوئ جدا کړی
خدایه جنت د پښتون خوا خاوره کړې
د پښتنو بچې تر کومه مسافر به اوسی
خدایه جنت د پښتون خوا خاوره کړې

قربان شم ستا په اوبه پروت خړه خاوره یاره
د خټو لوټو کور دے هیر نه شی
دولت کښې ورک نه شے زمانه مسافره یاره
د خټو لوټو کور دے هیر نه شی

په شته وطن کښې مو بچې جارو اغیار ته وهی
د لر او بر پښتنو یو شئ سره
د زمرو او لعلونو کټه بل کره ځی
د لر او بر پښتنو یو شئ سره

سامراجی مینه به یو ورځ دے کړی بے دره یاره
دَ خټو لوټو کور دے هیر نه شی

Scanned by CamScanner

ترخو او سیږو به بې نومه په نړۍ د دا آخې
ستا دے قسم وی پښتون خوا جوړه د کړه
ما تے پښتنۍ ذرهٔ ستړے تلے باچا خان اډ مانځې
ستا دے قسم وی پښتون خوا جوړه کړه

راځه چه خپل حق په زور واخلو در په دې یاره
د ختمو لوټو کور دے هیر نهٔ شی
دولت کښی ورک نهٔ شے زمانه مسافره یاره
د ختمو لوټو کور دے هیر نهٔ شی

# په لبنان کښې داوه دیرش ماشومانو
# په مرګ

اوژاړم ځان که فلسطین او که لبنان اوژاړم
کهٔ نه بغداد کابل باجوړ وزیرستان اوژاړم

اورونه بل دي په هر لور د مسلمان په خونه
تس نس جمات شهید قران کهٔ یتیمان اوژاړم

بیت الجبیل[1] کښې خفګان او کرمه دکو ندوسره
کهٔ ټوټې ټوټې اوهٔ دیرش ماشومان اوژاړم

ظلم نه لیګ د صدر بش[2] او که شیرون[3] کرمه زهٔ
کهٔ نه ایهود اولمرټ[4] او ټونې بلیر شیطان اوژاړم

---

۱- د لبنان ښار ۲- د امریکې صدر جارج ډبلیو بش
۳- ایریل شیرون د اسرائیل پخوانے وزیر اعظم
۴- ایهود اولمرټ د اسرائیل اوسنے وزیر اعظم.
۵- ټونې بلیر د برطانیې وزیر اعظم.

۲۴- جولائی ۲۰۰۶ء

# ناخدا

د انه مې کوځې پرېښودې د تور رنګ سره ګریوان
د اتېوس د جانان اوکړې چه انعام دے که تاوان

بې هغه مې ناخدا دے هم هغه پسې روان
نه وجود د لړم نه وینه نه مې سوچ د سود او زیان

کله فرش مې کړي پورته دومره لوړ لکه اسمان
کله لاندې مې ګذار کړي لکه خس په بیابان

کله کله مې حیران کړي چه دا مینه که نفرت دے
کله ګل ذره د سپرلي شم کله سوځېږم د هجران

په نا نا کښې ئې پټ ښکه وي د نفرت مینه پنهان
په زیاړي ماز ګیري کښې د بوډۍ تال په اسمان

کله مست لکه لیونی شم چه شراب د شونډو راکړي
کله حلق مې ترخ زقوم شي چه کړي نه د الله جانان

Scanned by CamScanner

کائنات م تہ ول چنې کړی خو ثانی ئے چرته نشته
خدو خال د جانان ښکله دومره نهٔ کړم بیان

ته دے زلفو سره لاسونه کهٔ زما قابل نهٔ وی
ګل د الفت ورته بنډه د داکړو وی په مابه دے احسان

ما بیګاه خوب کښې بنکل کړے ستا د بنړیو تلی په مینه
څکه نن نشه نشه یم بے خبره د ځپل ځان

زهٔ منم طاقت د مینے نه دے ورځ به راشی ماله
ولے مابه ګور رته اورے وی په زړهٔ باندے ارمان

اے د مړو قدر دانو لږ په ژوندو ئے قدر اوکړئ
مړی چا دی ژوندی کړی په ژړا او به ګویان

د ړانخه ستا سایه ده وجود ونه اوساتے ته
چه تر څو وجود ژوندے وی سایه کړځی په جهان

# جهېز

لکه ورک شي مسافر نه خپل کاروان
داسې زهٔ يم بې درکه د خپل ځان

ورځ خو ورځ وي شپه سباکړم په سوچونو
ستړګې سرې مې لوند په اوښکو شي ګرېوان

لکه لعل مې لوړ کړه لوېه په سيپۍ کښې
پېغلتوب ئې شو خزلې د ډېران

ما په قبر ئې خوړه بنار سئ کړه
د ډولۍ ئې هم پوره شولو ارمان

په جهېز حيا، سيرت د غوښت دانه ده
د ر آخره عبث ګيلې کړي غريبان

---

Scanned by CamScanner

# څو شعرونه

(۱)

کړۍ وی د رښتیا چه عرش ته رسی د غریبانو نه
په رب قسم چه هر اختر به زلزله وی هلته

(۲)

ما شومه لوړ به مې ژړا کوی نکریزو پسې
زما جونګړې نه اختره لږ په ډډه تیر شه

(۳)

ښکالو دے هم اختره راندې شی زما په کوڅه
جیب مې خالی دے خو دا به طمع د بنګړو مې کوی

(۴)

طالبه دلته اعلانو نه دے اختر مه کوه
مونږ غریبانو ته اختر او محرم یو دے

Scanned by CamScanner

(۵)

غنۀ اختره د ورکو تې دا ته غوره ښکاره
لرے په پوس خوم بچي په مره خيته اوخوري

(۶)

اے دزددادو ربّه ما ته خپل خالق اوښايه
یو څو لحظې ترے دسکون خپلو بچو ته غواړم

ورکو تې اختر

۲۳ر اکتوبر ۲۰۰۶ء

## يادګيرنه :

دا شعرونه په ورکو تی اختر په نيته
۲۰۰۶ء کښې د پښتو عالمي کانګرس او
غني خان پښتو ادبي تحقيقي ثقافتي جرګے
له خوا په عيدکارډو چاپ شوی دی۔

(درانی)